eJOURNAL USA



# دا یوازې ټولټاکنې ندي

# ډیموکراسي

# څنګه واک او قدرت لېږدوي

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت/ د نړیوال اطلاعاتي پروګرامونو څانګه

دامرېکا خارجه وزارت ـ د ۲۰۱۰ م کال، جنوری
پنځلسمه ټوک اول لمبر

*http://www.america.gov/publications/ejournalusa.html*

دنړېوالو معلومات پروګرامونه :

منتظم: ډانېل سرېبنی
اجراېي مدېر: جانتن مارګولېس
تخلېقي رئېس: ماېکل جی فرېدمن

مسوول مدېر: رېچرد هکبی
اداری مدېر: لي ترهونی
دتولېد منېجر او
د وېب تولېدوونکی: جنېن پېري
ډېزاېن کوونکی: کلو ډی اېلېس
د تصحېح مدېر: جنېن هولډن

د عکسونو مدېر: ماګی جانسن سلېکر
د پوښ ډېزاېن کوونکی: مېن باو
دماخذونو متخصصه: انېتا ګرېن


په پوښ باندی د ای پی تصوېرونه د جوپېټر تصوېر

دامرېکا د خارجه وزارت، دنړېوال معلومات د پروګرامونو څانګه ، هره مېاشت ېو برېښناېي ژورنال د آي ژورنال eJournal USA logo تر عنوان لاندی خپروی. په دې ژورنال کې هغه مهم مساېل څېړل کېږی چې امرېکا اونړېواله ټولنه ورسره مخ دي. همدارنګه دامرېکا د ټولنی ارزښتونه ، فکر او موسسات ورسره مخ دی.

ېونوی ژورنال، هره مېاشت په انګلېسی ژبه خپرېږی، او ترهغی وروسته په فرانسوی، پرتګالی، روسي، او اسپانوی ژبو هم خپرېږی. ځانګړی ګڼی په په عربی، چېناېي او فارسی ژبه هم خپرېږی. هر ژورنال د ټوک او لمبر پر بنسټ په کتلاګ کې اچول کېږی.

هغه نظرېات چې په دې ژورنالونو کې خپرېږی، لازمه نده چی هغه دامرېکا د حکومت نظرېات، او پالېسی څرګنده کړی. دامرېکا خار جه وزارت دمحتوېاتو په برخه کې هېڅ ډول مسوولېت نه منی او نه دامسوولېت منی چې دانټرنېټ د وېب پاڼو له لارې خلکو ته هروخت ورسېږی. دا مسوولېت دهغو چاپوونکو دی چې ددغو وېبپاڼو د خپرولو مسوول دی. دژورنال لېکنی ، عکسونه، او تصوېرونه ښاېي چې بېا تولېد شی او له امرېکا نه بهر ترجمه شی. مګر دا چی په ښکاره ډول د چاپ د حقوقو بندېز پرې لګېدلی وی. په دې صورت کې به د هغه چانه اجازه اخېستل کېږی چې د چاپ حقوق ورسره خوندی دی. دا به ژورنال کې لېکل شوی وی.

د نړېوال معلومات د پروګرامونو څانګه، تجدېد کېږی او مخکېنی ګڼی په څو برېښناېي بڼو کې ورسره خوندی دی. پردی سربېره د راتلونکو ژورنالونو لېست هم ورسره په دې پته باندی موندل کېږی:

http://www.america.gov/publications/ejournals.html.

ستاسی تبصرو ته، به ستاسی د سېمی دامرېکا په سفارت کې او ېا د تصحېح په مدېرېت کې هرکلی ووېل شی: پته په لاندی ډول ده :


Editor, eJournal USA
IIP/PUBJ
U.S. Department of State
2200C Street, NW
Washington, DC 20522-0501
USA

برېښنا لېک پته :
E-mail: eJournalUSA@state.gov

# د دې ګڼې په هکله



© عکس د ای پي

ټاکل شوی جمهور رئیس جان ایف کنیډی (کیڼ) د ۱۹۶۰ کال د نوامبر په څوارلسمه په میامي، فلوریډا کي شپږ ورځې وروسته له هغی چې کنیډي په ډېر کم توپیر سره نکسن ته ماته ورکړه، په یو ګډ خبري کنفرانس کې، مرستیال جمهور رئیس ریچارډ ایم نکسن ته لاس ورکوي.

د ۱۹۶۰ کال د جمهوري ریاست ټول ټاکنې د امریکا په تاریخ کې د سیالېونه ډکو ټول ټاکنو څخه ګڼل کیږي. دومره د سیالو نه ډکې وې چې د مرستیال رئیس جمهور ریچارډ ایم نکسن خواخوږو او پلویانو له هغه څخه وغوښتل چې د ټول ټاکنو نتیجه ونه مني. خو نکسن دا خبره ونه منله. هغه وویل «که په پای کې برى هم زمونږ په برخه شي، خو د نړیوالو په نظر او په دېموکراسی باندې به په پراخه توګه د دې اغیزه مونږ ته په وروستي تحلیل کې ډېره ګرانه پریوزي.»

د دې پر ځای، نکسن خپله دنده تر سره کړه او سنا یا د مشرانو جرګه یې د جان ایف کنیډی د ټاکل کیدو څخه خبره کړه. هغه وویل، په سلو کلونو کې دا لومړی ځل دی چې د جمهوري ریاست لپاره نوماند د هغو ټول ټاکنو نتیجه او دخپل سیال برې اعلانوی چې خپله یې په کې ماته خوړلې. زه فکر نه کوم چې مونږ د خپل قانوني سیستم د ثبات او د خلکو حکومتي ادارو د پیاوړې کیدو، هغې ته داحترام او درناوی کولو، د امریکا د خلکو د ویاړ نه ډک دود په برخه کې، ددې نه بل روښانه او شانداره مثال و موندلی شو.

> دا مهمه نده چې د ټول ټاکنو په پړاو کې سیالي څومره توده وي او یا د ټول ټاکنو نتیجو کې دومره توپیر نه وی، خو ماته خوړونکي ډله، فېصله منی او د بریالی ډلې برې مني او د هغوی ملاتړ کوي.

خو په نکسن باندې نیوکه کوونکو د هغه په خبرو کې په راتلونکو سیالیو کې د ځان لپاره لار پرانیستلو ته ګوته ونیوله. خو دا چې ولې دغه شان لوړ او شانداره رول لوبول، د سیاسي مکر او چالاکي په توګه ولیدل شي، د یو اس ای د اي جورنال موضوع ده.

په دې میاشتنی کې مونږ وڅیړل چې څرنګه ډیموکراتیک حکومتونه د خلکو له خوښی سره سم او د آزاد او منصفانه ټول ټاکنو له لارې، واک نورو ته پرېږدي. د سړې جګړې نه وروسته په دوه لسیزو کې، ډیرو ملتونو ټول ټاکنې ترسره کړي، خو ټول ریښتوني ډیموکراتیک حکومتونه ندي. ځنې مهال ټول ټاکنو کې لاس وهنې کیږي، درغلي کونکي غیر عادلانه ګټه تر لاسه کوي، یا د پوځ په مرسته د ټول ټاکنو نتیجه بدلوي. خو په صحیح یا روغو ډیموکراسي ګانو کې، لکه د نکسن او د هغه د نیوکه کوونکو له نظره، وګړي دا تمه لري چې ټول ټاکنې به عادلانه وي اوپه دې ټینګار کوي چې د ټول ټاکنو نتیجې ته درناوی وشي چې له یو مشر څخه بل مشر ته په سوله ییزه توګه د واک پرېښودلو په عمل، پیل شي.

زمونږ، د لیکوالانو او په دې اړه نظر ورکونکو کسانو له نظره سوله ییز انتقال متحرکي مدني ټولنی سره تړلی دی. دوی استدلال کوي چې دا داوطلبانه مدني او ټولنیزې ډلې د وګړو پام را ګرځوي او هغوی خبروي، او ټولو ته دا ګډه پوهه اوتمه ورکوي چې ډیموکراسي مشروعیت لري او ضروري ده او غیر ډیموکراتیک عمل مشروعیت نلري.

په دې بحث کې یو شمیر برخه اخیستونکي وایي چې ډیموکراتیک حکومتونه ددې لپاره باثباته، دې چې بایلونکي په دې پوهیږي چې هو برى هم تل پاتې ندی، بریالي شوی کسان نشي کولی چې د راتلونکو ټول ټاکنو قواعد بدل کړي، او بایلونکي کولای شي بیا سیالي وکړي او یوه ورځ ګټونکي شي. د دغه ډول سیالېو له ډلې څخه یو هم ریچارډ ایم نکسن و چې په ۱۹۶۸ کې د متحده ایالاتو د اوه دیرشم جمهور رئیس په توګه وټاکل شو.

مسول مدېران

eJOURNAL USA

دامرېکا خارجه وزارت ، د ۲۰۱۰ م کال جنوری ۱۵م ټوک ، اول لمبر
http://www.america.gov/publications/ejournalusa.html

# داپوازې ټولټاکنی ندي: په ډېموکراسېوکې واک څنګه سپارل کېږی

## د شراېطو برابرول

**4 دا یوازې ټولټاکنې ندي**
ایرک بیورنلوند، دډېموکراسی انټرنشنل انک، یا نړېوالی ډېموکراسی مدېر او ګډ بنسټ اېښودونکی دی.
په واقعي ولسواکۍ کې، ټول ټاکنې د یو باثباته دولت، چې د اقلیتونو حقوقو ته درناوې وکړي، د بیان آزادي تامین کړي، د قانون پلي کولو درناوې وکړي او د یوې پیاوړې مدني ټولنې په پرمختګ کې مرسته وکړي، د جوړونی، لپاره لومړنی ګام دی.

**8 د پیاوړې ولسواکۍ اجزا**
والري بونسې، د حکومتدارۍ استاده او آرون بینیکورب د کارنیل پوهنتون د نړیوالو مطالعاتو رئیسه ده.
په واقعي ولسواکۍ کې ټول ټاکنې د دولت څخه غواړي چې حساب او ځواب ورکړي او ثبات ېقېنی کوی.

**10 په مدنی ټولنه باندی د ډېجېټل یا برېښنایې رسنېو دوامداری اغېزې**
د فېلېپ ابن هاورډ لېکنه، د مطبوعاتو اوخپرونو په څانګه کې د پروفېسور, مرستېال او د جکسن دنړېوالو مطالعاتو په پوهنتون کې غړی اوهمکار پروفېسوردی چې دواشنګټن په پوهنتون کې دواشنګټن اېالت د سېاټل په ښار کې پروت دی.
افراد او دمدنی ټولنی ډلی له برېښنایې رسنېو نه داکار اخلی چې ټولنېزې شبکی اووساېل په چټکی سره دخپلو پېغامونو د لېږلو، وسېله وګرځوی، دا د ژبنی پېغام او تصوېرې پېغام په توګه کوی؛ ځېنی وخت هغوی داکار د سېاسی تحرک او نارضاېتی دښودلو لپاره کوی.

**13 د ماتې په اړه د ډیموکراسۍ وینا یا خبرې**
پاول کورکورن، امریکایی سیاسي ساینس، د استرالیا په ادیلد پوهنتون کې استاد دی. هغه په ځانګړي توګه دهغو ویناګانوچی له ماتی نه وروسته کېږی، په خاصه توګه چې د سختی انتخابی مبارزی نه وروسته کېږی، د حکومت ثبات په دې باندی لا پیاوړی کوی چې خپل وګړی پخلاېنی ته راوبولی او چې دټاکنو نتایج ومنی.

**16 مدني ټولنه، ډیموکراسي او ټول ټاکنې**
بروس ګیلي، په پورټلنډ کې د اوریګان د پورټلنډ په دولتي پوهنتون پوری تړلي هاټ فیلډ دولتي ښوونځۍ کې د سیاسي علومو د معاون پروفیسر یا استاد په توګه دنده ترسره کوي.
پیاوړي مدني ټولنې واقعي حکومتونه پیاوړي کوي. د عادلانه ټول ټاکنو ترسره کولو او بیا بریالي شوي کسان دی ته هڅول چې په ښه توګه حکومت وکړي، هغوی داسی یو سیاسي حالت پیدا کوي چې ډیموکراسي په کې لانوره هم وده وکړي.

**19 د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال جمهوري ریاست د واک انتقال: د بریالیتوب نه ډکه همکاري**
مارتا جوینټ کمار- د سیاسی علومو پروفیسره، د ټاوسن پوهنتون، ټاوسن مریلینډ، او
سپینی ماېی کی د چارو د لیږدولو د پروژی رئیسه
د یوی اداری نه بلی ته د چارو د سم او آسانه لیږدونه اوانتقال د تلونکی او د راتلونکی جمهورو رئیسانو میاشتو میاشتو مخکی له مخکی کار اوهمکاری ته اړتیا لری.

## د واک لیږدول یا انتقالول

22 دعکسونو هنری ننداړتون: د خلکو دارادی عمل کول

27 له هربرټ هوور نه فرانکلین ډي. روزویلټ ته: بحران په وخت کې د قدرت انتقال
ډونالډ ای. ریچي، دامرېکا د متحده ایالاتو د سناتارېخ پوه د ولسمشر هربرټ هوور نه فرانکلین ډي، روزویلټ ته د واک انتقال، د ستر اقتصادي رکود په زمانه کې هغه وخت پېښ شو چې ، ډېر سخت اقتصادی او سیاسی فشار موجود و، خو سره له دې هم د امن په فضا کې تر سره شو.

29 پولنډ نسبتا ازادی ټاکنی، څنګه بدل کړ
آنه هوسارسکار ، تر جمانه ، خبرېاله او د بشری حقوقو کارکوونکی ده.
دهغی دخپلو کتنو پر بنا دا لیکنه چې د پولنډ د ۱۹۸۹ کال د ټاکنو په برخه کې ده، دا څرګندوی چې دسالېډارېتی تحرېک اومدنی ټولنی څرنګه مرسته وکړه چې د پولېنډ ډېموکراسی تاسېس کړی.

31 له استبدادي حاکمیت نه د اروپایي اتحاد تر غړیتوب پوري: رومانیا او مالدوا
ګریګوري پوپ ایلیس
دا دواړه سیمي چې پخوا د کمونسټ بلاک برخي وې، له دوه مختلفو سیاسي جریانونو نه تیري شوي دي. رومانیا په بریالیتوب په ملک کې ډیموکراتیکه حکومتداري ساتلې ده او دا وخت د اروپایي اتحاد غړیتوب لري. او مالدوا، هېو امېدوار غړی هېواد دی.

34 د «سربیا منی» وځنډید: بی تمدنه ډیموکراسي جوړولو په اړه یو سبق
زوران سرجاکویک، خبرېال او وېنا وال
ځېنی وخت دمدنی ټولنی موسسی له تجربه کارو سېاسی معامله کوونکو نه د ډېموکراتېکو نتاېجو په لاسته راوړلو کې لږ موثرېت لری.

36 نوري منابع

# دا یوازې ټولټاکنې ندي

## ایرک بیورنلوند




© عکس د ای پی ، تیمبا هادب

په سویلي افریقا کې د پان افریکن پارلمان نه بهر، د ډیموکراتیک بدلون لپاره د زمبابوی د دولت د مخالف غورځنګ پلویان د دغه پارلمان څخه غواړي چې په جمهور رئیس رابرټ موګابی فشار واچوي ترڅو په زمبابوې کې ډیموکراتیک اصلاحات راولي.

**قانون پوه یا وکیل او مسلکي کارپوه ایرک بیورنلوند چې د دوه لسیزو نړیوالو تجربو خاوند دی، د نړیوالی ډیموکراسی یا ډیموکراسی انټرنشنل، آی ان سي، ګډ بنسټ ایښودونکې او لارښود دی. دغه ډله د ډیموکراسی او حکومت په اړه پروګرامونه جوړ وي، عملي کوي یې او ارزونه یې کوي. هغه په ټول ټاکنو، سیاسي بهیرونو، مدني ټولنې او تحلیلي کړنلارو کې تخصص لري. هغه د یو کتاب مؤلف دی چې د آزاد او عادلانه انتخاباتو نه وړاندې: د ټول ټاکنو څارنه او ډیموکراسی جوړولو په نامه یادیږي او په ۲۰۰۴ کال کې چاپ شوی.**

**په واقعي یا صحیح ولسواکۍ کې، ټول ټاکنې د یو باثباته دولت ، چې د اقلیتونو حقوقو ته درناوې وکړي، د بیان آزادي تامین کړي، د قانون پلي کولو درناوې وکړي او د یوې پیاوړې مدني ټولنې په پرمختګ کې مرسته وکړي، د جوړونی لپاره لومړنی ګامونه دی.**

ډیموکراتیکي یا آزادې ټول ټاکنې په پراخه توګه د مشروع دولت د بنسټ په توګه پیژندل کیږي. وګړو ته دا حق ورکول چې د خپلې خوښې حکومت وټاکي، ټول ټاکنې کی په حقیقت کې د ټولو نورو ډیموکراتیکو ادارو او کارونو لپاره لومړنی ګام دی. خو واقعي ډیموکراسي لپاره لا ډیر نور څه هم کول په کار دي. د ټول ټاکنو سر بیره، ډیموکراسي کې باید د دولت واک قانوني حد ولري، د لومړني حقوقو د ساتلو تضمین، د مذهبي او اقلیتي ډلو منل، او د ډول ډول نظرپاتولرونکو کسانود استازیتوب په ګډون، لا ډیر نور څه کول هم په کار دي. د صحیح ولسواکۍ د راوستلو لپاره، ټولنې باید هغه ډېموکراتیک کلتور او قانون پلي کول ومني چې د ټول ټاکنو لارې چارې ښیي او د هغو کسانو مخنیوي کوي چې کیدې شي د ټول ټاکنو بهیر ته ستونزې را پیدا کړي. لکه څرنګه چې د امریکا بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن په دې وروستیو ورځوکې په جورج ټاون پوهنتون کې وویل،

«ډیموکراسي یوازې د لارښودونکو او رهبرانو د ټاکلو په معنا نده،

د فعاله برخه اخستونکو وګړو، آزادو خپرونو، خپلواکې قضايي او شفافه او ځواب ورکوونکي اداري په معنا هم ده چې ټولو وګړو ته ځواب ورکوونکي وي او دهغوی حقوق په عادلانه او برابره توګه ساتي. په دېموکراسی کې دوګړېو د حقوقو درناوی دخوښې خبره نده چې مشران يې ورځ په ورځ فېصله کوی. همدايې دلېل دی چې دوی حکومت کوی. دېموکراسي، د دغوټولو شيانو د درلودلو په معنا هم ده.» (واشنګټن، ډی سی، ۲۰۰۹ کال ډسمبر ۱۴.)

د ټول ټاکنو نه وروسته بې کړکيچه اوارامه سياسي بدلون لازمي خبره ده. په واقعي ولسواکی کې، بايلونکي کانديدان په ډېره درنه او سوله يزه توګه قدرت پرېږدي. ددې کار په کولو سره، بايلونکي کانديدان خپل عزت ساتي او په دې توګه د خپل ملت ډيموکراتيک دود او دستور او کلتور پياوړی کوي. همدا ډول بريالي شوي کانديدان خپلو مخالفينو سره خبرو او هغوی ته د درناوي کولو له لارې اختلافاتو د حلولو لپاره لار پرانيزي او هغه راتلونکي ستونزي کموي چې کيدای شي د ډيموکراسي او پرمختګ په وړاندې خنډونه را ولاړ کړي.

په ربښتونی، ولسواکی کې، د قانون پلي کول، دېموکراتيکې سياسي اداري او خپلواکه مدني ټولنې د ټول ټاکنو نتيجې ته په درناوي کولو او دهغو منلو کې مرسته کوي. دا اداري او ارزښتونه په خپل وار د خلکو باور په خپل دولت او د سوله ييز سياسي بدلون راوستلو کی د هغوی پلوي کول زياتوي.

## د قانون حاکميت

دېموکراسي د قانون حاکميت غواړي او د ټول ټاکنو نتيجه هر څه چې وي خو دا حاکميت بقا مومي. د ملګرو ملتونو د امينت شورا له نظره د قانون حاکميت هغه وخت وي چې «ټول خلک، اداري، عمومی او خصوصي موسسي د دولت په ګډون د هغه قانون په وړاندې مسول دي چې په ځرګنده توګه خپور، په ټولو باندې يو شان پلي کړای شوی او په خپلواکه توګه تصويب شوی وي، او د نړيوالو بشري حقوقو د معيارونو او نورمونو مطابق وي».

د قانون حاکميت د مشروعيت، عدالت، مؤثرېت درلودلو او د څارني او توازن په معنا دی. مشروعيت په دې معنا دی چې قانون د عمومي ټولنيزې رايي غبرګون اوانعکاس وي او د يوې آزادې، ډموکراتيکې پروسی له لاری عملي کړای شي. دنورو ځيزونو پرته، بی طرفي يا عادلانه رويه، په برابره توګه د قانون د پلي کولو، عادلانه محکمی ته لاس رسي، د مدني آزاديو خوندي ساتل، او عدالت ته تر ممکنه حده د لاسرسي درلودلو په معنا ده. موثريت درلودل په دوامداره توګه د قانون د پلي کولو او عملي کولو په معنا دی.

هغه قانون چې په ښه عادلانه توګه پلي کړی شوی وي او د ټولو وګړو ساتنه وکړي، يو ډيموکراتيک دولت ته مشروعيت ورکولو کې ډېره مرسته کوي ځکه چې دغه ډول قوانين په يوی صحيح يا واقعي ولسواکی کې عمومی درناوی او ژمنتيا له ځان سره لري، وګړي د ټول ټاکنو نتيجه هر څه چې وي مني. هغه ملت چې قوانين په کی په عادلانه توګه پلي کړای شوي او شخړې په بی غرضه توګه حل شوي، ډير باثباته وي. خو له بلې خوا غير عادلانه او له توپير نه ډک قوانين د خلکو درناوی نشي ګټلای. که په صحيح توګه وښودل شي، دغه ډول قوانين کيدی شي د خلکو له خوا ونه منل شي يا ان خلک راوپاروي او داسي وضعيت رامنځ ته کړي چې د ټول ټاکنو قناعت نه ورکوونکي نتايج په آسانی سره ونه منل شي. او له همدی کبله د امريکا جمهور رئيس ډوايټ ډي. آيزنهاور داسی څرګندونه وکړه،« ددې لپاره چې پوه شو په ورځني ژوند کې د قانون حاکميت په څه معنا دی، د ټولو نه ښه او روښانه لار داده چې د هغه وخت پيښې په ياد راولو چې د قانون حاکميت نه و.»

د قانون حاکميت، بنسټيزو مدني حقوقو، عدلي لارو چارو، معيارونو او نورمونو ته د درناوي کولو په معنا هم دی او غواړي چې دغه ډول حاکميت د ټولټاکنو په نتيجه کې هم وليدل شي. په ولسواکی کې د ټول ټاکنو نتيجه د بيان يا وينا اود خپرونو پرآزادی او خپلواکه قضائيه سيستم اغيزه نه کوي. نوي رهبران که د خلکو ډير ملاتړ هم ولري، بايد چې ددغو نورمونو په باب پوښتني رامنځته نه کړی او يا د خلکو حقوق له ګواښ سره مخامخ نه کړي ان د هغه خلکو په ګډون چې د بايلونکي کانديد ملاتړ يې هم کړی وي.

په پای کې، قانون حاکميت ته درناوی کول، د سوله ئيزو ټول ټاکنو له لارې بدلون رامنځ ته کوي. بايلونکی کانديد که څه هم د ټولټاکنو نتيجه نه مني خو ډير ژر به په دې پوه شي چې هيڅ ډول ملاتړ نلري؛ وګړي به دغه شان کس ته د قانون ماتوونکي او د خپل ګډ مدني کلتور په وړاندې، د يو ګواښ او خنډ په سترګه وګوري. همد اشان، په هغه هيواد کې چې قانون ته درناوی کيږي او دولت ته د يو مشروع دولت په سترګه کتل کيږي، وګړي به په ډېره ټيټه پيمانه د بغاوت او يا د هغه کانديد ملاتړ وکړي چې د ټول ټاکنو نتايج نه مني.

## سياسي اداري

ښې پرمختللې، سياسی او انتخابی اداري او ډلې، همداشان کولی شی د ټول ټاکنو له لارې د سوله ئيز بدلون، د راتګ امکان زيات کړي. دغه اداري ډيموکراتيکو حکومتونو ته هغه قوت او توان ور په برخه کوي چې کولی شي د جنجالي او اعتراض نه ډکو ټول ټاکنو نه د راولاړې شوي شخړو په مقابل کې ودريږي. لارو او سرکونو کې د خپل قهر او غضب د ښکاره کولو پر ځای، بايلونکي کانديدان يا اپوزيسيون کولی شي د ټول ټاکنو نتايج او يا د ټول ټاکنو لارو چارو غيرعادلانه توب د اداري لارو چارو يا مکانيسم يعنی د ټول ټاکنو د شکاياتو کميسيون يا د محکمو له لارې خپل اعتراض څرګند کړي. هغه ستره تمه درلودل چې دغه اداري به وکړی شي په مناسبه توګه شخړی حل کړي، کولی شي چې سوله ييز او ډيموکراتيک بدلون رامنځ ته کړي او د هغو شخړو مخه ونيسي چې کيدای شي د اعتراض نه ډکو ټول ټاکنو د نتايجو له کبله رامنځ ته شي.

ځواکمنې او موثرې انتخابی اداري د ټولټاکنو د بهېر اعتبار لا زياتوي او د خلکو هغه تمه عملي کوي چې د ټول ټاکنو نتايجو ته به درناوی وشي. دوی بايلونکو کانديدانو ته يقين ورکوي چې د



عکس د ای پی، کارل پرینسلو ©

د روانډا ټول ټاکنو ملي کمیسیون یو غړی د ۲۰۰۳ کال په اګسټ کې په راتلونکی ورځ کی ترسره کیدونکو ټولو ټاکنو، په کیګالي کې د رای ورکولو د یوې حوزې دننه ولاړ دی.

بریالي شوو کسانو واکمني د تل لپاره نده او د بیا انتخابی سیالی د کولو لپاره، بل وخت راتلونکې دی.

هغه سیاسي اداره چې د حکومت واک محدودوي او یا یې څارنه کوي، د ثبات ترلاسه کولو کې ډیره مرسته کوي. په تیره بیا دا د هغو نویو رامنځ ته شویو ډیموکراسیو لپاره ډیر ارزښت لري، چې د ټول ټاکنو نتایج یو غیر یقینی سیاسي او یا د شخړو نه ډک حالت رامنځ ته کړي. که یو سیاسي مشر د ټولو ټاکنو نتایج ونه مني، داسي یوې قوی، خپلواکې قضایي ته اړتیا ده چې وشي کړی د دغه سرسخته نه منونکي په وړاندې ودریږي. کله چې دغه ډول سرسخته رهبر په ټول ټاکنو کې له ماتي سره مخامخ شي، دا به ډیره مرسته وکړي که د دولت بیروکراسي د ځان لپاره د ملاتړ او د خپلو غړیو د معیشت لپاره د دغه سیاسي رهبر په تمه پاتي نشي. ملکي مامورین به د بایلونکي رهبر د هغو هڅو ملاتړ ونکړي چې ډیموکراتیکه پروسه نه مني. مثل شوي سیاسي اداری، د اختلافاتو لپاره د حل لار پیدا کوي او سیاسي رهبران، قانون جوړوونکي او بیروکراتان هڅوي چې په ډیموکراتیکه توګه حکومت وکړي.

موثره حکومتداری – عامو وګړوته د حساب کتاب ورکولو، اړتیاوته جواب ګویی، شفافیت او لیاقت درلودلو په ګډون- د ولسواکی لپاره د سیاسي مشروعیت په جوړولو کې مرسته کوي. لکه څرنګه چې جمهور رئیس بارک اوباما د ګانا پارلمان ته وویل، «په یوویشمته پیړی کې، با کفایته، د اعتبار وړ او شفافه اداری د بریالیتوب لپاره اهمیت لری. ځواکمن پارلمانونه، د پولیسو صادق ځواکونه، خپلواکه قاضیان او خبریالان، خوځنده او فعال خصوصي سکتور او مدني ټولنی، هم دکامیابی لپاره ډیر ارزښت لري.» (اکرا، ګانا، ۲۰۰۹ کال د جولای ۱۱).

## مدني ټولنه

لکه د سیاسي ادارو او د قانون د حاکمیت په شان، یوه پیاوړي مدني ټولنه چې د آزادو خپرونو ملاتړ یې هم تر شا وی، د ډیموکراتیکو چلندونو مشروعیت زیاتوي او هغه توقعات اوتمی عملي کوي چې دواړه ( بریالی او بایلونکي) ډلي خلک به د «لوبی قاعدی او قانون» ته درناوی کوي. د مدني ټولنو سازمانونه د دولت د واکمنۍ څارنه کوي او د هغو بایلونکو مخه نیسي چې غواړي ډیموکراتیک بهیر له ګواښ سره مخامخ کړي.

په ربښتونی ډول خپلواکه او تر ډیره حده استازګر، غیر دولتي اداری او دمدنی ټولنی نوری او ټولنی پوري تړلی اداری مرسته کوي چې کاندیدان او ټاکل شوي چارواکي د ټول ټاکنو نتایجو او ډیموکراتیک بهیر ته درناوی وکړي. هغوی کولی شي د وګړو او دولت ترمنځ د ډیرو مهمو خبرو په اړه مینځګړیتوب وکړي او هغه معلومات ورکړي چې ډیموکراتیک او نماینده دولت ورته اړتیا لري. د ټولنې د ربړونو او اندیښنو په راټولولو سره، مدافع ډلی په رونټیا او احتساب کې ډیره مرسته کوي. د دولت نه په کلکه سره غوښتل چې باید د ټول ټاکنو د مبارزی اوکمپاین په دوران کې خپلی کړې وعدې پوره کړي، دغه ډلي خلکو ته د دولت ځواب ورکولو پروسه مخ ته بیا یې. د مدني ټولنو سازمانونه کولی شي د دولت رویه او سلوک بدل کړي او همدا شان کولی شي د خلکو د غوښتنو په پربنسټ دهغوی غوښتنی او توقعات دولت ته ښکاره کړی چې دولت څه ډول عمل وکړي.

انټرنټ اود ټولنیزو رسنیو ټکنالوجي نن مهال مدني ټولنی پوری تړلی ډلو ته نوی پلاتفرم او دربځ ورکوي چې د هغی له لاری معلومات راټول او تبادله کړي او د دولت نه د لا ډیر شفافیت او احتساب غوښتونکي شي. بلاګونه، لېکلی پیغامونه، آنلاین ټولنیزې اړیکي او همدغه شان ویب پاڼي، مدني ټولني ددې جوګه کوي چې خپل پلویان او په چټکی د خپلو غړو شمیر ډیر کړي او دخپل مقصد لپاره سیمه یز او ملي ملاتړ ترلاسه کړي. د مثال په توګه، د ایران د کرکیچ نه ډکو ټول ټاکنو نه وروسته، د ټویټر په نامه آنلاین میکرو- بلاګ پلاتفرم له لاری ایرانیانو وکړی شول چې د ټول ټاکنو د نتایجو په باب جنجال او شک پیدا کړی، او نړی د نوېو سیاسي پېښنو څخه خبره کړي.

دبهرنیو چارو وزیرې هیلري کلینټن دغه سازمانونه او ډلی د دولت د حساب او ځواب ورکولو لپاره ډیر ارزښتمندې بولي. هغه وایي مدني ټولنه «سیاسي اداری دې ته اړ کوي چې بېداره اوسی او خپلو



© عکس د ای پی، سریدان لیک

د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر په ۲۴، په بلګراد کې د سربیا د نوي انتقالي دولت وزیران د پارلماني جلسی په دوران کې د لوړې متن لولي.د نوی جمهور رئیس وایسلاو کوستونیکا پلویانو ومنله چې په ډسمبر کې د نوي ټول ټاکنو تر کیدو پوری د سلوبودان میلاسوویچ سوسیالست ګوند سره په ګډه حکومت وکړي.

خلکو ته ځواب ورکوونکي وي.» (مراکش، د ۲۰۰۹ کال د نوامبر دریمه نیټه).مدني ټولنې پورې تړلې ډلې د خلکو سره مرسته کوي چې څرنګه د دولت د حساب ورکولو او شفافیت لپاره نوې لارې ومومي او دولت دې ته وهڅوي چې ډیموکراتیکو اصولو او قواعدو ته وفادارې پاتي شي.

## ټول ټاکنو ته درناوی او مخ په وړاندې تګ

ډیموکراسي، بولړ توقعات او پوهه، دخلکو په زړونوکې را پیدا کوی، په دې کې د قانون حاکمیت او د ټول ټاکنو نتایجو ته ، درناوي کول شامل دي. دا کار د ټول ټاکنو تر څنګ ډیرو نورو ارزښتونو ته درناوی کول غواړي. په قاهره کې د خبرو کولو پر مهال جمهور رئیس اوباما پر دغه بنسټیزو حقیقتونو باندې ټینګار وکړ:

دا مهمه نه چې د خلکو حکومت، پرخلکو باندی په کوم ځای کې وې ، خو حکومت د ټولو واکمنو کسانو لپاره یو لړ معیارونه رامنځ ته کوي: باید خپله واکمني د عمومی رضائیت سره سمه په مخ بوزي، د هیڅ ډول زور نه باید کار وانخستل شي؛ باید د اقلیتونو د حقوقو درناوی وشي، او د منلو او مصالحی نه کار واخېستل شي؛ باید د خپلو خلکو ګټه او سیاسي بهیر مشروعیت د خپل ګوند نه اوچت وګڼل شی. د دی اجزاو نه په غیر، یوازی ټول ټاکنې، واقعي ډیموکراسي نه رامنځ ته کوي.( قاهری پوهنتون،قاهره، مصر د ۲۰۰۹ کال جون ۴).

د قانون حاکمیت ته درناوی، پخې او پرمختللی سیاسي ادارې او پیاوړې مدني ټولنې په دې بهېر کې ګډون کولی شي چې د خلکو هیلي عملي او دسوله ییز سیاسي بدلون امکان برابر کړي. په هغه هیوادونو کې چې اداری د بیلابیلو ګټو استازیتوب کوي، د خلکو، غوښتنی نورو ته رسوي، د سیاسي مباحثي لپاره زمینه برابروي، او قانون په اغیزمنه او برابره توګه عملي کوي، هلته دغه ډول حکومت د درناوی کولو ډیر زیات امکان شته دی. په دغه ډول هیوادونوکې، د سوله یزه لارو نه د بدلون راوستل، د اساسي قانون له لاری د ټول ټاکنو نتایج نه منلو مخه نیسي او زیار باسي دا باور پیدا کړي چې ټول ټاکنی د پراخ بنسټه ډیموکراتیک حکومت کولو لپاره لومړنی ګام دی.

---

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندویي نکوي.

# د پياوړې ولسواکۍ اجزا

والري بونسې



© عکس د ای پی، الکساندر زملیانیچنکو

په کيف کې د ۲۰۰۴ کال د يوي غونډی په دوران کې د اوکراين وګړي، د اپوزيسيون مشر ويکتور يوشچينکو ته خوشحالي کوي. په لس ګونو زرو خلکو په ټول ټاکنو کې د درغلۍ په وړاندې او د رايې خوندي ساتلو لپاره اعتراض کړی و. «نارنجي انقلاب» د ټول ټاکنو د نتايجو د نه منلو سبب وګرځيد. وروسته بيا آزادې او عادلانه ټول ټاکنې ترسره شوې.

**والري بونسې، د حکومتدارۍ استاده اود آرون بينيکورب د کارنيل پوهنتون د نړيوالو مطالعاتو رئيسه، د کمونيزم د زمانی نه د تيری شوی اروپا او ايروايشيا کې د ولسواکۍ او استبدادي رژيمونو کارپوهه ده. هغه د کمونيزم نه را په ديخوا نړی کې ډيموکراسي او استبداد په نوم کتاب(۲۰۰۹) ګډه ليکواله هم ده.**

**په واقعي ولسواکۍ کې ټول ټاکنې د دولت نه غواړي چې حساب او ځواب ورکړي او په سوله يزه توګه واک نورو ته ورسپاري.**

ډيموکراتيکې ټول ټاکنې يوازی د رای ورکولو او رای شميرلو په معنا نه دي. په واقعي ولسواکۍ کې، ټول ټاکنې دولت د خلکو په وړاندې مسؤل ګڼي. دا کار هغه وخت ترسره کيږي چې:

- دټولنی وګړي د خپلو سياسي استازو د ټاکلو آزادي ولري؛
- دټولنی وګړي وکړی شي د خپلی خوښې کانديد وټاکي؛
- واکمن کسان له ټاکل شوې مودې نه وروسته بايد يوازې بيا د ټول ټاکنو له لاری دولتي ادارو ته وټاکل شي. په دي ډول هغوی د ټول ټاکنو له لارې د خپلو کړو وړو په اړه د منظمي څارني سره مخامخ کيږي او کيدای شي چې بيا واکمنيدو لپاره پوره رايې و نه ګټي.

د سیالۍ نه ډکې ټول ټاکنې د سیاسي امیدوارانو په مینځ کې یو ډول غیر یقیني حالت رامنځ ته کوي او له دې کبله هغوی دې ته هڅوي چې خپلو وګړو ته مسؤل او ځواب ورکونکي وي.

ټول ټاکنې یوازې هغه وخت دولت ځواب ورکونکی او مسئول ګڼلی شي چې په منظمه ، آزاده او عادلانه توګه ترسره شي. د افریقا د صحرا سیمې او کمونیزم نه وروسته د ایروایشیا په ډېرو هیوادونو کې، ټول ټاکنو لپاره سیالی ونشوه چې د دولت ځواب ورکول او مسول ګڼل تضمین کړي. ځینی مهال دا کارځکه کیږی چې د ټول ټاکنو پروسه غیر منظمه وي د دې پر ځای چې شفافیت ولري او د اساسي قانون د لارښوونو مطابق وي؛ په ځینو هیوادونو کې، متخلفان یا متصدیان له دي کبله په سیاسي میدان کې واکمن دي چې د پخوانو او راتلونکو خواخوږو څخه ملاتړ کوي، یا هغوی «جعلي» مخالفی ډلی یا اپوزیسیونونه جوړه وي او «واقعي» مخالفو ډلو یا اپوزیسیون ته ګواښ پیښوي. همدا شان ډیموکراتیک رژیمونه خپله واکمني د رای ورکوونکو د نوم لړ یا راجستر، شمیر او رایې د جدولونو د څارنې او کنټرولولو له لاری اوږد وي.

د ظاهري او واقعي ډیموکراتیکو لارو چارو ترمنځ واټن هغه وخت کمیږي چې په اپوزیسیون کې ناست ګوندونه او نور کاندیدان ډېر سخت انتخابی مبارزه یا کمپاین و چلوي. دا د وګړو او مدني ټولنی د تحرک لامل ګرځي او هغوی په خپل وار د رای ورکوونکو راجستر کولو، د رای ورکولو او د ټول ټاکنو د څارنې لپاره کار کوي. دا دقیقاً هغه څه په ګوته کوي چې د ۲۰۰۸ کال د سلواکیا، ۲۰۰۰ کال د کرویشیا او سربیا، ۲۰۰۳ کال د ګرجستان او ۲۰۰۴ کال اوکراین په ډیرو مهمو ټول ټاکنو کې ترسره شول. په دی هیوادونو، هر یوه کې، وګړو د رای ورکولو او اعتراض په ګډون دنورو ډیموکراتیکو لارو چارو څخه کار واخست تر څو مستبده واکمنان او یا د هغوی تطمیع شوي ځیناستي د ماتې منلو ته اړ کړي.

بدلون هر ډول سیاسي سیستم له ستونزې اوازمېښت سره مخامخ کوي. واقعي ډیموکراسي دغه ستونزه په ډیری آرامۍ او سوله ییزه توګه هواروي. له تقلب نه پاکې ټول ټاکنې او سوله یزه بدلون ښکاره کوي چې د نن بایلونکي به د سبا بریالي کسان وي او برعکس. بریالي کسان او دهغوی پلویان باید د خپلو مخالفانو په وړاندې مسول وي، ځکه چې راتلونکې ټول ټاکنې باید هم له پامه ونه غورځوي. بایلونکي اوپلویان یی باید د نن او راتلونکی په اړه اندیښمن وي ددې پر ځای چې د تجربه شویو ناخوالو په اړه فکرمند وي. په دی باور درلودل چې په راتلونکی کی دوی واکمن کیدی شي، هغوی په آسانۍ سره ننۍ سیاسي سیستم مني او دا امکان ډېر کم لیدل کیږي چې د یو ډموکراتیک دولت د اخ اوډب له لارې د لیرې کیدو غوښتونکي وي.

هر نوی بدلون یا انتقال د نوي رهبرۍ نه د بدلون راوستلو غوښتونکی دی او دا د سیاسي ثبات په وړاندی یو ازمېښت او چیلېنج دی. ډیموکراسي دغه چلنج د وخت سره سم او د سیالۍ نه ډکو ټول ټاکنو له لاری چې د نوي رامنځ ته شوي مشرتابه د راتلو لپاره زمنیه برابروي او د واک د منصفانه انتقال یا بدلون له لاری د دواړو بریالي شوېو او بایلونکو کسانو سره مرسته کوي چې خپله برخه ومني. البته له هغه ځایه چې ډیموکراتیک حکومتونه څرنګه ثبات ګټي د سیاسي تحرک یا هڅو او بدلون او ان د رای ورکونکو د غوښتنی په خلاف چې همغه یو کاندید بیا بیا وټاکي، سره قیاس کولو له کبله له یو بل سره توپیر لري. د مثال په توګه، په امریکا، روسیه، ارمنستان او د افریقا په صحرا کې د ۳۰ نه زیاتو هیوادونو کې د اساسي قانون پر بنسټ د رهبرانو بیا بیا ټاکل حد لري. دا حد ددی لپاره دی چې مستبد کسان ونشي کړې د اوږدی مودې لپاره په واک کې پاتې شي، او همدا شان وګړي هم، هغه کاندید ته د بیا رای ورکولو له حق نه محروموي چې دوره پادورې یې خلاصې شوي وی.

ټول ټاکنې له همدې کبله په ډیموکراتیکه ټولنه کې دوه بنسټیزه دندې ترسره کوي. ټول ټاکنی دولت د خپل حاکمیت لاندې کسانو په وړاندی ځواب ورکونکی او مسول بولي، او د سیاسي واکمنی سوله یزه انتقال یا بدلون رامنځ ته کوي. دا دواړه کارونه په خپل وار سره ولسواکۍ ته مشروعیت ورپه برخه کوي. د واقعي ولسواکۍ وګړي خپل استازي دولت ته د«یوازنۍ لارې» په صفت ګوري چې باید سیاست وکړي.

---

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندويي نکوي.

# په مدنی ټولنه باندی د ډیجېټل یا برېښنایې رسنېو دوامداری اغېزې

فیلیپ اېن هاورډ



© عکس د ای پی

د ۲۰۰۹ کال جون: د لاسی ټیلیفون دکمری سند تهران ، ایران، مظاهره چیان دټاکنو په نتایجو اعتراض کوی.

**فیلیپ این هاورډ د مطبوعاتو اوخپرونو په څانگه کې د پروفیسورمرستیال او دواشنگټن ایالت د سیاټل په ښار کې دواشنگټن په پوهنتون کې د جکسن دنړیوالو مطالعاتو په څانگی کې غړی اوهمکارپروفیسوردی. فیلیپ په ۲۰۰۶ کې یوکتاب (*New Media Campaigns and the Managed Citizen*) لیکلی دی. دهغه بل کتاب (*The Digital Origins of Dictatorship and Democracy* ) نومیږی چې په ۲۰۱۰ م کال کې به داکسفورډ په پوهنتون کې چاپ شی.**

**برېښنایې خپرونی او له ویب پاڼی نه گټه اخیستنه خلکو ته دمدنی ټولنی دانستیټیوټونو او عامه رسنیو د خوځښت لپاره شرایط برابر وی. دا رسنی خلکو ته داسی شرایط برابروی چې هلته افراد خپل نظریات وړاندی کولی،او خپله نارضایتی څرگندولی شی، چه په دې توگه د سیاسی دیموکراسی په لور لاری چاری پیاوړی کیږی.**

د معلوماتو نوي ټکنالوژی، په سیاسی کلتور باندی ژوره اغیزه کړیده. د ۲۱می پیړی مدنی ټولنه په انټرنیټ اونورو وسایلو باندی د خپل بنیادی معلومات لپاره تکیه کوی. او همدارنگه د ډیجیټل د سبب په ځای هم تکیه کوی چی مدنی خبری اتری پکی منځته راځی. داکا ر په هغو هیوادونو کې په خاصه توگه صدق کوی چې ملی چاپې او برېښنایې خپرونو باندی دروند سانسور لگیدلی وی. لنډه داچی ټکنالوژی خلکو ته دا ځواک ورکړی دی چی د سیاسی خبرواترو لپاره نوی وسایل هغوی ته برابر کړی. او په خلکوکې د ډیموکراتیک فکر اوعمل عادت پیدا کړی.

مدنی ټولنه، اکثرا داسی تعریف شویده چې په خپله تولید کوی او په خپله د خلکو د هغی ټولنی ملاتړ کوی چې له یوبل سره په بنیادی اصولو کې شریک وی. په خپله خوښه باندی سیاسی ، اقتصادی و کلتور ی فعالیتونه د دولت نه په مستقله توگه سرته رسوی. مدنی

ټولنی په هره سطحه او کچه موجودی دی. د عفوې دنړیوالی ټولنی نه نیولی، د باولنګ دلوبی تر ډلو پورې په امریکا کې او د انټرنیټ له لارې، په ټوله نړی کې موجودی دی.

مدنی ډلی په خاصه توګه د ټاکنو پروخت ډیرې اهمیت لری ځکه چې هغوی د ټولنی دګڼو نظریاتو نمایندګی کوی او درسیټو له لارې یې د ټولنی پراخو برخو ته رسوی. د پراخو او ګڼونظریاتو څرګندونه، خلکو ته ډاډ ورکوی چې په ډیموکراسی کې یوه ډله هم دا ادعا نشی کولی چې له دوی سره د ټولنی د ټولو ستونزو ځواب شته دی او د ټولو نمایندګی کولی شی. ددی په ځای ګڼی ډلی دملی اهدافو په مشخص کولو او پالیسیوپه جوړولو کې برخه اخلی.

## د بالقوه او مجازی ټولنو جوړول

دمدنی ټولنو ډلی له انټرنیټ نه د اکمالاتو د یوی وسیلی په توګه د تنظیم اوخبرو اترو په چارو کې کار اخلی. ویب پاڼه هغوی ته دافرصت ورکوی چې له دولت نه په مستقله توګه ورته بنیادی معلومات برابر کړی؛ داسی معلومات چې ټولنیز غورځنګونه پکې وده کولی شی. د مثال په توګه د تونیس خلک ددی لپاره چې ددولت اداری فساد وڅاری، خپل ځانونه ئی منظم کړل او د څارلو لپاره یې د یو ټیوب ویډیوګانی رااپستلی دی چې د تونیس د جمهوررئیس میرمن څرګندوی چې په دولتی الوتکه کې دسودا اخیستلو لپاره میلان او پاریس ته سفر کوی. په دې توګه انټرنیټ په ډیرو هیوادونو کې د سیاسی خبرو اترو لاری چاری بدلی کړیدی. هلته فضا په حقیقت کې دمجلس ځای دی چې مدنی ټولنی پکی له دولت نه بازخواست کولی شی. په ځینی ملتونو کې، اسلام له سیکیولریزم سره سیالی کوی، په نوروکې په هر ډول سیاسی شخړو باندی بحث کیږی.

له ټاکنو نه وروسته، هغو مجازی اوبالقوه ټولنو چې ریښیې ئی ځغلولی دی او ځواکمنی شویدی، تقریبا ددولت له کنترول نه ازادی دی. که څه هم دهغوی څارنه کیدلی شی او دولت یې ځینی وخت په خپله ولکه کې راوستلی شی. په داسی حال کې چې سیاسی معتبرین، مجازی ټولنی ددی لپاره دانټرنیټ له لاری جوړوی چې آن لاین خبری کنترول کړی؛ خو دا کار ډیر کامیاب ندی. په داسی هیوادونو کې لکه استرالیا، کاناډا، برتانیې او دامریکا متحده ایالاتو کې دغه ډول ټولنو ته ځینی وخت مصنوعی، یا لنډ مهاله تحریکونه یا خوځښتونه ویل کیدلی شی. دا خوځښتونه مصنوعی دی، او ډیر کم داسی کیږی چی هغوی په ټولنه کې ریښی وزغلوی. معمولا دا خوځښتونه د ټاکنې دورځې نه وروسته دوام نه کوی.

هغه څه چې دوام پیدا کوی، هغه د یوه هیواد د مدنی ډلو او نړیوالو غیردولتی مؤسسو او همفکره ټولنو تر منځ په یوه هیواد کې، دریښتونو اړیکو منځته راتلل دی.دا مجازی اوبالقوه ټولنی زیاتره په هغو هیوادونو کې منځته راځی چی دولت او د ټولنی معتبرین په سختی سره د نورو ټولنو څارنه کوی. په هغو ټولنو کې چی سیاسی مخالفانو باندی بندیزونه وی، هلته بریښنایې رسنیو، فعالیتونه دهغو دمتبادل په توګه منځته راځی. حتی د خبرتیا، ان لاین تختی Online Bulletin Board او دمرکو خونی Chat Rooms چې د خرځلاو لپاره ځانګړی شویدی او دیوه تجارتی نوم والا ګړیَ

پکې خرڅیږی دازادې ویڼا او خبرو اترو لپاره تریڼه کار اخیستل کیږی. دګړیو دخرځلاو په ځاې تریڼه د بیان له ازادیَ نه پکې دفاع کیږی. انټرنیټ د سیاسی مخالفانو هغو ګوندونو ته چې د مستبدو نظامونو له حکومت نه بهردیره دی دا شرایط برابروی چې دخپل هیواد په سیاسی بحثونو کې برخه واخلی. د سیاسی ګوندونو بندول اوس دامعنی لری چې رسمی سیاسی مخالف ګوند په کمپیوټری توګه یا آن لاین د هیواد نه بهر ځان تنظیم کړی. ددې بله معنی داهم ده چې مدنی ټولنی د تنظیمولو نورو لارو چارو ته لاسرسی پیدا کړی چې دنیټورک ټکنالوژیو ورته برابرې کړیدی.

## له مدنی مبارزی سره مرسته

په دې نیږدی وخت کې په مالیزیا، اندونیزیا، او ترکیې کې انتخابات وشول او دزیاترو څارونکو دویڼا له مخی ټاکنی په ښه توګه ترسره شوی. بریښنایې رسنیو په سیاسی مبارزه کې غټ نقش درلود او ډیموکراسی ځواکمنه معلومیدله. که څه هم ددې هیوادونو تاریخونه له یوبل سره تفاوت لری، سیاسی کلتور یې تفاوت لری خو په دغو دری واړو هیوادونو کې یې یوډول ښه غوره کړیده:

- خلکو په خپلو خبرو کی د نړیوالو خبرونو برخه زیاته کړیده.
- کورنی او ملګری له ټویټر ، فس بوک او اورکوت شبکو نه په راډیویې خپرونو کې زیاته ګټه اخلی. دا رسنیَ د دولت له کنټرول نه مستقلی او ازادی دی.
- دمدنی ټولنی مبارزینو په آن لاین برخه کې وده کړیده که څه هم په خپل ملک کې حکومت د هغوی خلاف سخت اقدامات کړیدی.
- ښځې هم، بریښنایې خبرواترته، په داسی توګه جلب شویدی چی هروخت په اصلی اوریښتونی فضا کې لاسته نه ورځی.

د ډله ئیز شناخت سیاست ـ په خاصه توګه، ښاری او ټکنالوژیَ باندی یوه ځوانانو ته ـ په بریښنایې رسنیوباندی وړاندی کیږی. له فلسطینیانونه تر یونانیانو،ارمنیانو، همانګانو پورې دانټرنیټ ځوانو کاروونکو د خپل کلتور او سیاست په باب له همدی لارې نه زده کړه کړیده. د خبرواترو دغو نوو لارو د ټاکنو پر سیالیو باندی تر زیاتې اندازې پورې مثبته اغیزه کړیده. ان تردی چې سخت دریځو اسلامی ګوندونو دیته ضرورت پیدا کړیدی چې په خپلو پیغامونو کې له منځلاریز دود نه کار واخلی. دمعلوماتو له نویو ټکنالوژیو نه کار واخلی چې رای ورکوونکی، وهڅوی او په ځان یې رامات کړی.

ټویټر، بلاګونه، اویو ټیوب ټولنیزه ناکراری نشی پیدا کولی. خونن سبا، دا ډیره ګرانه ده چې څوک ټولنیز تنظیمونه او مدنی مبارزه له دغو نه پرته، تصور کړی شی؛ حتی په داسی هیوادونو لکه ایران او مصر کې. په دغو هیوادونو کې ډیر خلک انټرنیټ یا لاسی ټیلیفون نلری. خوهغه کسان یې چې لری ـ لکه ښاری اوسیدونکی، تعلیم یافته معتبرین، او ځوانان ـــ په خاصه توګه داهغه خلک دی چې د رژیم بدلول ممکن کولی شی اویا په خاموشی سره د ټاکنو دنتیجی ملاتړ کوی. داهغه خلک دی چې یا د مستبدو رژیمونو ملاتړ کوی

او پا ترینه تبنتی. او داهغه خلک دی چې دهغوی اړیکی له خپلی کورنی سره، دخبرو اترو د نوی ټکنالوژی په واسطه بدلی شوېدی.

کله چې ټاکنی پاېته ورسیږی، دنوېو رسنېو عادتونه پاتې کېږی. ټاکنی په هغو احساساتی شېبو بدلېږی چې په هغو کې شاګردان، مشران، خبرپالان، او دمدنی ټولنی ډلی له ډیجیټل ټکنالوژی یا بریښناېي رسنېو سره تجربه پیداکوی، حتی که ددوی غوره کاندیدان ټاکل شوی نه وی. د تجربی کولو بهیر ځکه مهم دی چې د بریښناېي رسنېو په کارولو سره، خلک دمعلوماتو درسولو یو داسی بنېادی کار برابروی چې له دولت نه تر ډیرې اندازې پورې مستقل اوازاد دی. بریښناېي رسنۍ یا ډیجیټل میډیا پرمدنی ټولنه بندی دوامداری اغیزې کوی. داسی اغیزې چې له انتخاباتونه وروسته هم دوام کوی. انټرنیټ تاسی ته فرصت برابروی چې زده کړه وکړی. دمثال په توګه دهغو هېوادونو د ژوند په باب چې هلته عقیده او ازادی دواړه سره ژوند کوی. د وخت په تیریدو سره ډیر خلک زده کوی چې که انټرنیټ وکاروی، او خپل مهارت په آن لاین څیړنه او پلټنه کې زیات کاندی. په دې برخه کې نورهم پرمختلل کېږی چې خپل معلومات څنګه لاسته راوړی، څنګه یې ارزیابی کړی او څنګه یې استعمال کړی.

## دمدنی ټولنی ځواکمنول

هوښیاران په دې مسله کې ریښتیا وایې چې وایې له انټرنیټ نه د ترهګرانو د شبکو د ملاتړ لپاره هم کار اخیستل کېږی. هغوی وایې چې د ټولنی واکمنه طبقه په دې لټه کې ده چې ـ دنویو رسنیود سانسور کولو ـ له لاری د ټولنیز کنترول پیچلی لاری چارې پیدا کاندی. خو په دې کیسه کې نورې خبری هم شته دی. دا یوازې ( اي جهاد e-jihad یا بریښناېي جهاد) ندی او نه ان لاین ترهګری ده، فضاېي جګړه او یا بریښناېي فتواګانی هم ندی. دوخت په تیریدو سره، توقع ده چې، د ټولنیزو رسنېو نقش به دمدنی ټولنو په ځواکمنولو کې، اوپر سیاسی کلتور باندی خپلې دوامداری اغیزې ثابتی کړی.

په سیاسی لحاظ حساسو شیبو لکه ټاکنو کې او یا سیاسی او نظامی شخړو کې، داسی وسایل لکه لاسی ټیلیفونونه، او انټرنیټ سیاسی خبری اتری په دری ډولونو پر مخ بیولی شی:

- اول، د ټکنالوژی کاروونکي، په غیر معمولی ډول د اعتبار د قوی معیارونو څرګندونه کوی؛ او دشخړو په وخت کې دهمکاری څرګندونه کوی.ددې توقع ده چې هغوی تصویرونه سره شریک کړی، له یوبل سره مرسته وکړی چې له خپلې کورنی او دوستانو سره اړیکی ولری، او له بهرنیانو سره مرسته وکړی چې د سیاسی پیښو معلومات ورته برابر کړی.
- دویم ، د مدنی ټولنی ډلی اکثرا دیوبل نه د هغوی د بریښناېي ستراتیژیو نقل اخلی. ددې یوعلت دادی چې ډیموکراتیک مبارزین به له یوه هیواد نه بل هیواد ته سفر وکړی چې اوله ځاېي ډلو سره به د ټاکنو پروخت مرسته وکړی.
- دریم ، ټاکنی ددې لپاره ښه فرصت دی چې په هرډول مسایلو باندی بحث وشی، په دې کې درسنېو دنویو ټکنالوژیو په نقش باندی خبری کول هم شامل دی. په داسی پوښتنو باندی، لکه د ټکنالوژۍ معیارونه ــ عامی ټولنی ته اختصاص شوې اندازه، د حکومت سانسور، بریښناېي لاسرسی ــ د بحث موضوعګانی کېدلی شی.

ټولنه ښاېي په دې ټینګار وکړی چې سیاسی کاندیدان دی خپل پلانونه، د ټکنالوژی داستعمال اوپرمخ بیولولپاره، توضیح کړی او دهغی خلا د بندولو لپاره څه پلان لری چې د بډایو ا ونسیتمنو ترمنځ د ډیجیټل ټکنالوژی په استعمال کې شته دی.

دمالیزیا د تازه پارلمانی ټاکنو، احصاېوی نمونی دا څرګندوی چې سیالی کوونکو کاندیدانو چې په بلاګونو کې تبلیغات کول، ددی توقع زیاته وه چې برحاله کاندیدانو ته چې په بلاګو نو یاشخصی ویبپاڼو کې یې تبلغات نه کول، ماتی ورکړی. د مخالفو سیاسی ګوندونو کاندیدانو، چې له بلاګونو نه یې ګټه اخیستله، توقع زیاته وه چې هغوی د حکومت هغو کاندیدانو ته ماتی ورکړی چې له شخصی ویبپاڼو نه یې کار نه اخیست. نن دا ډیره ګرانه خبره ده چې یوسیاسی کاندید دی معاصر او مترقې ښکاره شی خو د ډیجیټل مبارزی ستراتیژی دی ونلری.

دمعلوماتو بنستیزه برخه سیاست دی. په ډیرو ملتونو کې، د سیاست د حاکم او دودیز کلتور په نسبت، ډیر خلک پکې ګډون کوی. په نتیجه کې هغه سیاست چې د نوی ټکنالوژی پربنسټ ولاړدی زوړ سیاست چې دمعتبرینو له خوا انحصارشوی و، په ډیموکراتیک سیاست بدلوی یا په بله وینا په سیاست کې ډیموکراسی راولی.
هرځلی چې یوسړی د بشری حقوقو نه دتیرې یوه پیښنه په خپل لاسی ټیلیفون باندی ثبتوی؛ یا داسی یو مشترک جدول استعمالوی چې ددولت دلګښتونو درک ولګوی اویا ددولت د رسمی اداری فساد خلاف معلومات راغونډوی، هغه په حقیقت کې مدنی ټولنه پیاوړی کوی او د ډیموکراسی لپاره یو مثبت کارکوی. د ډیجیټل یا بریښناېي رسنېو ډیر دوامدار اثر ښاېي داوی چې دیوه ملک اتباع له دوه شیانو سره عادی کوی له یوې خوا یې سیاسی مطالب مطالعه کوی او له بلی خوا یې تولیدوی.

---

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندويي نکوي.

# د ماتي په اړه د ډيموکراسۍ وينا يا خبرې

## پاول کورکورن



© عکس د ای پي ، مایکل ایولر

د ۲۰۰۶ کال د مى په ۶،د جمهوري رياست لپاره  سوسياليست کانديد سيولين رايل په پاريس کې خپله ماته ومنله. په داسى حال کې چې د خپلو پلويانو نا اميدى يى خپله وګڼله، هغې وويل هيله کوي چې بريالۍ شوى نيکولا سرکوزي به « د فرانسى ټولو خلکو ته  دخدمت کولو په مقصد کې بريالۍ شي.»

**امريکايى سياسي ساينس پوه پاول کورکورن د آسټراليا په اديلد پوهنتون کې استاد دى. هغه په ځانګړي توګه د ستراتيژيکو ويناګانو او د خپرونو جوړښت په ګډون د سياسي اړيکو، سياسي فلسفې او سياست او هنر سره ډيره علاقه لري.**

**د سختو سياليو ډکو ټول ټاکنو څخه وروسته خوړې او ښى وينا ګانې يوازى تشريفاتي خبرې ندي. دا خبرې د نتايجو په مشروعيت،د ملى وحدت په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي او په سوله يزه توګه د واک د بدلون لپاره لار خلاصوي.**

په داسى حال کې چې ۲۰۰۸ کال د نوامبر په ځلورمه، د رايو شميرل لا روان و، د جمهوري رياست لپاره د امريکا دوه اصلي کانديدانو د واقعي سياسي رهبرانو په شان خپل رول ولوبا و. بايلونکې کانديد جان مکين لومړنى  کس و چې وينا يى وکړه. د هغه دغه د ماتى منلو وينا په شان داسې ډول ډيرې ويناوې په تاريخ کې ترسره شوي:


> زما ملګرو، مونږ د يوه اوږد سفر پاى ته راورسيدو. دامريکا خلکو خپله خوښه وښودله او په ډيره روښانه توګه يى وښودله. لږ شيبه مخکې مى په وياړ سره سناتور بارک اوباما ته  چې د امريکا، هغه امريکا چې مونږ دواړه ورسره مينه کوو، د راتلونکي جمهور رئيس ټاکل کيدو له کبله ټيلفون وکړ. د ټول ټاکنو په دغه شان سيالۍ او ستونزو نه ډک کمپاين کې، د بریالیتوب لپاره د ښاغلي اوباما توانمندي او زيار ايستل، هغه ته زما د درناوۍ سبب ګرځي. هغه وکړى شول چې په مليونونو هغه امريکايى خلکو په زړونو کې د هيلو ډيوه روښانه کړي چې په دې غلط باور وچې هغوې د امريکا په ټول ټاکنو کې کم رول لري يا لږه اغيزه کولۍ شي او د همدغه هيلى راپيدا کولو او لاس ته راوړلو لپاره زه د زړه له کومې د هغه قدرداني او ستاينه کوم.

بارک اوباما د خپل بريالیتوب په وينا کې  په دې توګه ځواب ورکړ. هغه په ټينګار سره وويل « مونږ هيڅ کله يوازى د افرادو يوه مجموعه  نه وو،  يا سور رنګه ائتلاف چې (په عمومى توګه د جمهوري غوښتونکوو ايالتونه بولى) او آبي رنګه ائتلاف چې (په عمومي توګه د ډموکراتانو ايالتونه بولى) نه وو. مونږ همدا اوس دامريکا متحده اېالات يو او تل به د امريکا متحده ايالات پاتي شو.» د ټاکل شوي جمهور رئيس وروستنۍ خبرې د خپل سيال، د قدرداني کولو په اړه وى:

> لږ مهال مخکى نن ماښام، ما ته د سناتور مکين ډير د مهربانۍ او لطف نه ډک ټيلفون راغې. په دې کمپاين کې سناتور مکين ډيره اوږده او سخته مقابله وکړه. او هغه دخپل هيواد لپاره چې ورسره مينه لري، لا ډيره اوږده او سخته جګړه کړى ده. هغه د امريکا لپاره هغه قربانۍ ورکړي چې زمونږ په منځ کې ېې زياتره کسان، تصور هم نشي کولې. که نن مونږ ښه ژوند لرو نو دا د دغه زړه ور او بخښونکي لارښود د خدمتونو له کبله دى.

په هرى واقعي ډيموکراسۍ کې، دغه ډرامه په ډول ډول بڼو ترسره شويده. سيګولين راويل، نيکولا سرکوزي ته « د فرانسې خلکو ته په ښه خدمت کولو کې د برې» هيله وکړه. د جاپان ماتې خوړونکي لومړني وزير تارو اسو اعلان وکړ،

«زه فکر کوم چې دا دخلکو فيصله وه او مونږ بايد دغه فيصله په ټول اخلاص سره ومنو.» په ټوله نړې کې د ډيموکرايټک کمپاين په پاى کې دغه راز د لطف او قدردانۍ نه ډکى ويناوى اوريدل شوى دي.



© عکس د ای پي، لورا روچ

د جان کېري دانتخاباتي مبارزې، مسولین د خپل کاندید د ۲۰۰۴ کال د ماتې منلو خبرو ته غوږ دي.

شاید وکولې شو دغه ډول څرګندوني یوازې د تشریفاتي ویناو په صفت ومنو: غېرصادقانه، بدل خلاصول او شاید هم د زړه ورتوب پخوانۍ دود وښيي. خو هرڅه چې وي دغه ویناوې ډېر مهم رول لوبوي: دخپلې ماتې منلو په اړه وینا کې، بایلونکي کاندید د ټول ټاکنو د نتایجو مشروعیت مني. د بریالي شوي کاندید ځواب دا ښيي چې د ټولو کاندیدانو پلویان د ملي حکومت د قدر وړ برخه جوړوي. هر ډول ټول ټاکنې که هر څومره هم د سختو سیالیو نه ډکې وي، د ملي وحدت په څرګندولو سره پای ته رسیږي.

## د بدلون رسمي یا قانونی لارې چارې

د حیرانتیا وړ داده چې بایلونکي کاندید د ټولو ټاکنو د شپې په ډرامه او ډیموکراتیک بهیر کې د وینا یا لفاظۍ ډېر ستر او ښه چانس لري. بریالی کاندید باید د کمپاین په دوران کې خپلو، وعدو ته وفادار پاتې شي. د خپل مخالف بریالیتوب په منلو او دخپل سر سخته مخالف په صفت کولو سره، په آسانۍ سره خپل زړه ور توب څرګندوی او خپلې لاس ته راوړنې زیاتوي.

په یوه ډیموکراسۍ کې د سیاسي بدلون په قانوني لارو چارو کې د بایلونکي وینا ډېره مهمه ونډه لري. د ډېرې کمې تیارۍ او د ډېر زیات احساساتي فشارلاندې، د یو پیاوړي کاندید له خوا د ماتې خوړلو په اړه خبرې کول، په حقیقت کې د ټولنیز ثبات او سیاسي مشروع واکمنۍ لپاره دمدني اړتیا څرګندونه کوي. دا کار په تشریفاتي توګه د هغه سمبولیکې شخړې (ټول ټاکنې) حلوي چې ګواکې تل او قصدا په ډیموکراسۍ کې ترسترګو کیږي، او له دې کبله د ټولو له خوا غوښتل شوې خپلواکې او قانوني نظم عملي کیږي. د بایلونکو لپاره، دغه ډول ویناوې، په ټول ټاکنو کې بایلل د بریالیتوب په اړه کېسه ویل بدلوي: بایلونکي ګوند د راتلونکې بریا لپاره بیا تعهد کوي. د جګړې، خپل همسنګر سره وفاداري او مخالفو اصولو په اړه خبرې کول، د فضیلت، زړه ورتوب او سیالۍ څرګندونه کوي یعنې په داسې لوبې کې ګډون کول چې د لوبې کول بنسټیز وي او د لوبې اصول یا احکام د بایللو یا بریالي کېدلو نه ډېر ارزښت لري.

څنې کسان د امریکا ټول ټاکنې، د د ښمنانو ترمنځ د منظم جنګي کمپاین په توګه وړاندې کوي. لکه د جګړې په څېر، ټول ټاکنې د شور اوګرمو احساساتو نه ډک کار دی. د بریالیو او بایلونکوکسانو په ویشلو او اختلافاتو باندې په ټینګار کولو سره، خېروني ددغې نظامي موضوع په اړه په اونېزو خپرونو کې د ټول ټاکنو په اړه خپاره شوي نظریات وړاندې کوي. کاندیدان د خپل مخالف یا سیال لیاقت، شخصیت، او رهبري کولو توانمندۍ ته د شک په سترګه ګوري. د حاضرو کاندیدانو په پخوانۍ ریکارډ ډېر ژر شک او د جنجال نه ډکې خبرې کېږي. د کاندیدانو د کمزوریو او کمبودونو په اړه څارنې کیږي. هغه کاندیدان چې همدا اوس یې قدرت په لاس کې دی او د «ټول ټاکنو جذبات» یې راپاریږي، د بیا واکمنه کېدلو لپاره لا ډېر زیار باسي.

د جمهوري ریاست لپاره د نوي کمپاین سازمانونه لګیا دي چې لومړۍ رای ورکوونکي په برخو وویشي او بیا هغوی د ایډیولوژیک پلوه په یو بلاک یا ډله کې سره راغونډ کړي. دا ستراتیژۍ ملت په ګوندونو، ولایتونو، سیمو او نورو داسې برخو ویشي. د جمهوري ریاست لپاره هره تر سره شوې ټول ټاکنې د یو بل نه لا ډېر تفرقه اچوونکې، د سختو سیالیونه ډک او منفي کمپاین ښودل شوی دی. ډېر کار پوهان وایي چې په دې توګه ملت د پخوا نه لا زیات څو قطبي کیږي.

په ډیموکراټیکو اصولو باندې اصرار واقعي دی. زړې وفادارۍ، غمونه او تعصبونه را ژوندي کیږي. احساسات ګرمتیا مومي. په آخر کې به یو کاندید او تقریبا د رای ورکوونکو نیمایي برخه به نهیلي شي، د هیلو ډیوه به یې مړه شي اود خیالاتو دنیا به یې ړنګه شي.

داسې کارونه، هغه وخت پیښیږي چې ټول کارونه په ښه توګه پر مخ ولاړ شي.

> د ماتې خوړلو په اړه وینا کولو سمبولیکه دنده داده چې د دواړو اړخونو لپاره په پرهارونو او ستونزو د مرهم پټۍ کېښودل شي. یوازې بایلونکی کاندید باید خپله ماته ومني، د بریالي کس بریالیتوب اعلان کړي، د ملي وحدت لپاره په خلکو غږ وکړي او دهغه کاندید لپاره ــ چې د ډېرو میاشتو راهیسې یې د هغه په ضد انتخابي مبارزه کړېده ــ د ملي ملاتړ غوښتنه وکړي. د خپلو شخصي هیلو او غوښتنو قرباني کول، په دې ارزي چې د ملي وحدت لپاره غږ وشي. ګوند ته وفادار پاتې کیدل، بیا تعهد او په دې یقین درلودل چې په راتلونکې کې د بریا لپاره روښانه زمینه شته ده. له همدې کبله په ۲۰۰۴ کال کې ماتې خوړلي جان کیري خپلو وفاداره ملاتړ کوونکو ته زمونږ د هیواد ویشل کیدو د خطر او د ملي وحدت لپاره د بنسټیزې اړتیا په برخه کې خبرې وکړې او همدا چې باید د ګډو ګټو پیدا کولو لپاره سره یو ځای شو. نن زه ددې هیله کوم چې مونږ بیا رغول پیل کړو.... مونږ باید باید دخپل هیواد د پرمختګ لپاره یو ځای کار وکړو. په راتلونکو ورځو کې مونږ باید ګډ مقصد پیدا کړو. مونږ باید بې له پښېمانۍ یا تور لګولو، بې له قهره یا کرکې، د یو ګډ مقصد لپاره سره یو ځای شو. امریکا وحدت ته اړتیا لري او په لویه پیمانه د صبر او حوصلې ته لیواله ده.

څلور کاله وروسته، جان مکین له هماغه پخوانۍ موضوع نه کار اوخست:

سناتور اوباما او ما په خپلو اختلافاتو باندې بحث وکړ او هغه بریالی شو..... زه د خپلو ټولو پلویانو څخه غواړم چې زما سره نه یوازې ښاغلي اوباما ته په مبارکۍ ورکولو کې یوځای شي، بلکه، هغه ته دښو هیلو په څرګندولو او د هغه سره په ګډه کارکولو لپاره په کوښښ کې ماسره یو ځای شی ترڅو وکولې شو د اړتیا وړ جوړجاړی پیدا کړو، خپل اختلافات له منځ لرې کړو، خپله نیکمرغي بیا رامنځ ته کړو، په دې خطرناکه نړۍ کې خپله ساتنه وکړو او خپلو ماشومانو او لمسو ته د هغه هیواد نه لا ډیر پیاوړی او ښه هیواد پرېږدو، کوم چې مونږ ته پاتي شوی و. اختلافات هر څه چې وي او هر څومره چې وي، مونږ ټول امریکایان یو.

## دقدرت منظم انتقال: پونړیواله ستونزه اوازمېښت دی

د ماتې منلو دغه د خوښې وړ دود او د یو بل سره د مرستې او وحدت لپاره غوښتنه او سیالۍ نه ډکې د ټول ټاکنومبارزی اوږد مهاله دود، د امریکا په متحده ایالاتو کې منل شوی کار دی. خو، په ډیره یا کمه پیمانه خو دغه دود دود په نورو ډیموکراتیکو ملکونو کې هم رامنځ ته شوی دی. د دغه دود مبارزې، بیلګې مو په ۲۰۰۵ کال کې د برتانیې په پارلماني ټول ټاکنو کې ترسترګو شوې. بی بی سي راپور ورکړ چې مایکل هاوارډ د محافظ کاره ګوند رهبر« خپلې ماتې منل» په دغو کلکو الفاظو سره څرګند کړل:

> داسې ښکاري چې ښاغلی بلیر د دریم ځل لپاره کارګر ګوند ته بریا ورپه نصیب کوي او زه هغه ته ددغه بریا مبارکي وایم. زه په دې باور یم هغه وخت را رسیدلی چې دی ټول هغه کارونه ترسره کړي چې زمونږ د هیواد خلکو ته ارزښت لري ..... کله چې هغه دغه کار ترسره کوي نو زما ملاتړ به له ځان سره ولري.

د ۲۰۰۷ کال د جمهوري ریاست لپاره د فرانسې په ټول ټاکنو کې د سیګولین رویال د ماتی منلو د وینا ډیموکرایتک مضمون روښانه و:

> ملګرو، وطنوالو... خلکو خپله عمومي غوښتنه څرګنده کړه او زه هیله لرم چې د فرانسې، نوی جمهور رئیس به وکړی شي خپل هدف ته ورسیږي او زه د زړه له کومي د ۱۷ ملیونو نه مننه کوم.... ما خپله هڅه وکړه او خپلو دغو هڅو ته به دوام ورکړم... زه غواړم د ټولو هغو خلکو نه مننه وکړم چې مبارزه یې وکړه او راځې چې خپله انرژي او خوښي له لاسه ورنکړو... ټول ټاکنو ډیموکراسي بیا راژوندۍ کړه... هغه څه چې مو یو ځای پیل کړي وو، یو ځای به یې هم پرمخ بوزو.

په سویلي امریکا، افریقا، آسیا، اروپا او آسټرالیا کې د ټول ټاکنو وروسته د منلو ویناوی ترسره کیږي، خو ډیر کم د جمهوري ریاست لپاره د امریکا په ټول ټاکنو کې رسمي اداب او د خپرونو په واسطه جوړ شوي دود په نظر کې نیسي. دا خبره په تیره بیا د هغه هیوادونو په اړه رښتیا ده چې یا بی شمیره ګوندونه لري او یا هم هلته پارلماني سیستم وي چې د اکثریت د ګوندونو ایتلاف، حکومت جوړوي.

د دولت او واک قانوني یا رسمي بدلون د یو سیاسي ګوند نه بل ته دومره هم آسانه کار ندی. ددی کار لپاره یو قانوني چوکاټ او د سیاسي تجربی پربنسټ په لویه پیمانه د هغه باور شتون پکار دې چې ټول ټاکنې به عادلانه وي. په نوېو او د پرمختګ په حال حکومتونو، په تیره بیا هغوی چې د ژور کلتوري ویش سره مخامخ دي، د تجربی نه شتون یا د ټول ټاکنو په پروسه باور نه درلودل، هرو مرو یوه ستونزه یا چلنج دی. هغه رژیمونه چې دکودتا، سوله یزه او یا په بلې لارې جوړ شوي دي، کیدی شي خپل ډیموکراتیک مشروعیت په ټول ټاکنو کې ولټوي، یوازې ددی لپاره چې په ټول ټاکنو کې دخپلې ماتې مخه د وسله وال ځواک له لارې په ځواب ورکولوسره ونیسي. په دغه شان حالاتو کې، ددې پرځای چې خپله ماته ومني، کیدې شي د ګوند رهبر نتایج ونه مني او په ټول ټاکنو کې د لاس وهلو او تقلب، سانسور او د اخ او ډب نه ډکو مخنیویو دعوا وکړي. کیدی شي هغوی د خپلو پلویانو نه وغواړي چې مقاومت او مبارزه وکړي او ان خپل سرونه ورکړي. د هغه ملت لپاره چې غواړي ډیموکراتیکه اداري جوړې او سره یو ځای کړي، مخالفو رهبرانو ته په کار دي چې خپله ماته ومني او دملت ګټه د خپلو شخصي غوښتنو او ګوند د ګټوڅخه اوچتې وګڼي.

د ماتی او بریالیتوب منلو دود یوازی د خواخوږۍ ښودل ندي. داسي ښکاري چې رسماً یو بل ته درناوی کول د پخوانی اصیلی او لږ بد ګمانه زمانی هیر شوی مثال وي، خو د دغه دول ویناو خاوندان یوه پخوانۍ سیاسی ډرامایی فن یا لوبه وړاندې کوي. د ډیری سختې مبارزی وروسته، دغه ویناوی د غیر واقعي خیالاتو تشریفاتي څرګندونه ده: «ډیموکراسي په عمل کې» او«دخلکو د غږ» سرسخته مخالفانونه یو ځلی بیا متمد ن کسان جوړیږي. د هغو ارزښتونو لپاره سره یو ځای کیږی او یوځلی بیا وعده کوي چې د مخالفت او دښمنۍ نه مهم دي.

په پراخه توګه د ټولنیزو خپرونو له خوا خپاره شوي، دغه د ماتی منلو او بریالیتوب اعلانولو دود، د ټول ټاکنو د نتایجو عادلانه توب او پاکې ښیي. په داسی حال کې چې چاروکي رای شمیرلو کې بوخت وي، خبریالان په ډیره بېړه اوغوسه دخپلو کمپیوټرونو د معلوماتو په تحلیل پیل کوی او بی صبرۍ سره په دې انتظار وي چې: کله به بایلونکی کاندید خپله ماته «ومني»؟ آیا دغه کاندید به بریالي شوي کاندید ته د ټول ټاکنود بریالیتوب دشپې د لمانځلوچانس ورکړي؟ او آیا ماته خوړونکی کاندید به خپل خپګان اود احساساتو خرابیدل څرګند کړي یا د ناامیدی او که د غم په دغه آخري شیبه کې به «پیاوړتوب» ښکاره کړي؟ د بایللو دا دول لمانځل اوڅرګندول د واک د سمبولیک انتقال نښی دی. که د هری ورځی په تیرېدو سره پیاوړېو شوو ټولنیزو خپرونو په زمانه کې د څه مودی وروسته دغه ویناو ته ځیر شو، نو دغه ویناوی په واقعیت کې هغه یو منل شوی ډیموکراتیک دود ښیی چې زمونږ پوهه یی د ملي خپلواکۍ د جوړښت او عملي کولو په اړه زیاته کړی ده.

---

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندویي نکوي.

# مدني ټولنه، ډیموکراسي او ټول ټاکنې

## بروس ګیلي

© عکس د ای پی




د مظاهرو لپاره آزاد دي: انډونیشیایی زده کوونکي د پخواني جمهور رئیس سوهارتو جوړه شوی څېره سوزوي. هغوی په پخواني جمهور رئیس باندی د فساد تور لری کیدلو په ضد مظاهره کوله.


**بروس ګیلي په پورټلنډ کې د اوریګان د پورټلنډ په دولتي پوهنتون پوری تړلي هاټ فیلډ دولتي ښوونځی کې د سیاسي علومو د معاون پروفیسر یا استاد په توګه دنده ترسره کوي. هغه ډیموکراسی، مشروعیت او نړیوال سیاست ته په تیره بیا په آسیا کې ډیره پاملرنه کوي. د هغه ځیني کتابونه دادي: د حکومت کولو حق: څرنګه دولت مشروعیت ترلاسه کوی او یا یی له لاسه ورکوي (۲۰۰۹) او د چین د ډیموکراسی راتلونکې (۲۰۰۴). هغه د جورنال آف ډیموکراسي د مسولینوپه ډله کې هم ګډون لري.**


**پیاوړي مدني ټولنې واقعي حکومتونه پیاوړي کوي. د عادلانه ټول ټاکنو ترسره کولو او بیا بریالي شوي کسان دی ته هڅول چې په ښه توګه حکومت وکړي، هغوی داسی یو سیاسي حالت پیدا کوي چې ډیموکراسي په کې لانوره هم وده وکړي.**

وروستیو کلنو دا وښودله چې یوازی ټول ټاکنې نشي کولې ډیموکرایتکه واکمني تضمین کړي. هغه ملتونه چې عادلانه ټول ټاکنې یی ترسره کړي او بریالي شوي کسان د ښه حکومت کولو روښانه معیارونه په نظر کې نیسي، ټول یوه ګډه ګټه لري: پیاوړي مدني ټولنی اداري، د موجودو او راتلونکو ډیموکرایتکو حکومتونو مطالعه کول ښایی چې مدني ټولنه او ډیموکراسي متقابلا وده وکړی.

### انډونیزیا

په ۱۹۹۸ کې د مستبد سوهارتو د اوږدی مودی حکومت د را غوځیدو وروسته، انډونیزیا د سوله یزه ټول ټاکنو له لاری د واک د بدلولو څلور تجربې لري – په ۱۹۹۹، ۲۰۰۱، ۲۰۰۴ او ۲۰۰۹ کلونو په دغه موده کې د انډونیزیا ډیموکراتېکې لاس ته راوړنې د حیرانیتا وړ دي. په ۱۹۹۷ کې، انډونېزېا د آزادۍ دکور په معېار په سیاسي او مدني آزادیو کې ۶مه درجه لاس ته راوړي وه. په داسی حال کې (۷ درجه ترټولو ټیټه ده)، په ۲۰۰۹ کال کې د ۲.۵ درجې په لاس ته راوړلو سره، دغه هیواد د نسبتا لیبراله حکومتونو په لیکه کې ځان ته ځاې پیدا کړې دی.

د ډیرې ویرې او په پراخه توګه اخ او ډب او سیاسي شخړو سره سره، فعاله او منظمه مدني ټولنې هغه رول لوبوی چې ډموکراتېکو غوښتنو او اصولو ته د انډونيزيا په وفاداره پاتې کېدلو کې ډېره مرسته کړې ده. د ډیموکراسۍ فورم، د یونیورسټې رئیسانو فورم او د یونیورسټي نیټورک فار فری اینډ فییر الیکشنز په ښه شان د عادلانه ټول ټاکنو تضمین وکړ. همدغه راز د انډونیزیا دنورو مدني ټولنو او ادارو سیاستمداران دی ته اړ کړل چې اصولو ته وفا دار پاتې شي. خپلې وعدې هیرې نکړي، او د راتلونکو ټول ټاکنو پورې ، رای ورکوونکو ته ځواب او حساب ورکوونکي واوسي.

ډاکټر هادي سویسسترو چې په جاکارتا کې د ستراتژیکو او نړیوالو مطالعاتو د مرکز لوی رئیس دی، په ۲۰۰۱ کال کې امریکایي اوریدونکو ته وویل چې د هیواد نوی ډیموکراسي «ډیره کمزوری ده او اصلي خطر دادی چې کیدئ شي په دغه پروسه کې موږ په شاتګ وګورو.» هغه په څرګنده توګه وویل چې په انډونیزیا کې مدني ټولنه «خپله اصلي دنده، په دغه پروسه کې د بیرته شاته تګ مخنیوي بولي. دا زمونږ لپاره ترټولو مهم کار دی.» نهه کاله وروسته، د انډنیزیا مدني ټولنه کولې شي خپله لومړنی لاس ته راوړنه اعلان کړي. د امریکا د بهرنیوچارو وزیرې هیلري کلینټن د ۲۰۰۹ کال په فبروري کې په جاکارتا کې، د مدني ټولنې رهبرانو ته د یو صبرناک، ډیموکراتیک او حقوق ته درناوې کوونکي ملک په جوړولو کې د ښه نقش لرلو له امله مبارکي ورکړه. هغې وویل،« کله چې زه په راتلونکو کلنو کې د نورو هیوادونو ته سفر وکړم، زه به خلکو ته وایم که غواړئ چې پوه شئ چې ای اسلام، ډیموکراسي، پرمختګ او د ښځو حقوق په یو ځای کې پیدا کیدلې شي نو انډونیزیا ته ولاړ شئ.»

اوس اکثریت کسان په دې ښه پوهیږي چې واقعي ډیموکراسي یوازی د ټول ټاکنو نوم ندی. له همدې کبله د ډیموکراسۍ ترویج او مساعدت تر بل هر څه پر نورو فعالیتونو تمرکز کوي- د مدني ټولنې څخه د ملاتړ نه نیولی د قضایي پروسو په موثر ډول پیاړوی کېدو پورې دا ټول په ډېموکراسی کې شامل دی. خو د ډیموکراسۍ ټاکلو او غیر ټاکلو دواړه اړخه یو بل پوری تړلي دي: نشو کولی چې یو له بل نه پرته ولرو، دواړه یو له بل سره کار کوي. یوه ژوندئ او څپانده مدني ټولنه چې د آزاده خپرونو او نورو خپلواکو سازمانونو ملاتړ ورسره وي، نه یوازی دا چې په عادلانه او مشروع توګه او منل شوېو ټاکنو دنتایجو پلوي کوي، بلکه د ټاکنو نه وروسته هم خپله دنده ترسره کوي اود حساب ورکولو، شفافیت او اصولو ته وفاداره پاتې کیدلو کې د دولت څارنه کوي. جمهور رئیس بارک اوباما په ۲۰۰۹ کال کې په مسکو او آکراه Accra کې د مدني ټولنې د رول څخه د«لاندی نه پورته» خوا ته ډیموکراتیک بدلون په توګه یادونه وکړه. لکه څرنګه چې هغه په آکره کې وویل،« دا یوازی د ټول ټاکنو ترسره کول ندي، دا هم دي چې د ټول ټاکنو ترمنځ څه پیښیږي.»

## اتیوپیا

ایتیوپیا هم د دغه «لاندی نه پورته» خوا ته د ډیموکراتیک جوړښت څرګندونه کوي. دغه هیواد په ۲۰۰۵ کال کې د ایتیوپیا دمدني ټولنو اوسازمانونو په مرسته چې پخوا تر ډېره حده په رفایي او پرمختیایي



© عکس د ای پي، انتیاپاول

د ۲۰۰۸ کال د ولایتي او پارلماني ټول ټاکنو په لړ کې، دایتیوپیا خلکو ته په دی اړه چې د ټول ټاکنو پروسه څه شی دی، روزنه ورکړل شوه.

کارونو کې بوختې وې، خپلې لومړني ، د سیالئ نه ډکې واقعي او ملي ټول ټاکنې ترسره کړی. اپوزیسیون کې ناستو ګوندونو د ولسي جرګې د ۵۴۷ څوکیو څخه دنهه څوکیو پرځای ۱۷۳ څوکیو په لاس ته راوړلو سره، د ایتیوپیا د خلکو انقلابي ډیموکراټیکي جبهې په لس کلنه واکمنی باندی لومړنی اوکلک ګذار وکړ. د ټول ټاکنو په دوران کې، د فافن ډیولپمنټ او ویژن اتیوپیا کانګرس فار ډیموکراسي په شان مدني ټولنو اود سازمانونو وګړو او د ټول ټاکنو د څارلو لپاره ټاکل شوېو کسانو ته دمدني زده کړې په اړه روزنه ورکړه.

رژیم هڅه وکړه چې د ټول ټاکنو نتایج اعلان نکړي. خو په پلازمینه، ادیسه ابابا کې اعتراضونه او قصدي سرټکوني پیل شوی. دمدني ټولنو سازومانونه چې په یوی جبهې کې سره راټول شوي وو، رژیم دی ته اړ کړ چې د ۲۰۰۶ کال د مې لاس لیک شوي لوظنامې سره سم د ټول ټاکنو واقعي نتایج ومني. دمدني ټولنې رهبران چې نیول شوي وو، بیرته خوشې کړې شول.

د هماغه وخت نه را په دې خوا مدني ټولنې پوری ترلو ډلو اي پي آر ډي ایف تر فشار لاندی راوست چې اپوزیسیون ته په درنه سترګه وګوري او د زور په ځای د عمومي رضایت په لاس ته راوړلو سره حکومت وکړي. دحساب ورکولو یو نوی احساس راپیدا شو. د مدافع ډلو اصلی غوښتنې او اندېښنی له کبله، پخواني لومړی وزیر او د دفاع وزیر په ۲۰۰۷ کال کې په فساد تورن او

محکوم کړی شول. همدا شان په ۲۰۰۸ کال کې، د مدني ټولنی ډلو د زيار او کار له برکته، د ايتيوپيا په پارلمان کې اوس ډول ډول سياسي ګوندونه استازي لري او د همدغه هڅو له کبله يی د خپرونو نوی قانون تصويب کړی. د دغه قانون پر بنسټ، دولت حق نلري چې خصوصی خپروني سانسور کړي او خبرياﻻن بندي کړي او دا خبره په روښانه توګه ښايی چې څرنګه مدني ټولنه او واقعي ټول ټاکني سره يو ځای وده کوي. لکه څرنګه چې جمهور رئيس اوباما په آکره کې په خپله وينا کې وويل،« په ټوله افريقا کې مو ډير داسی مثالونه وليدل چې څرنګه خلکو خپل برخليک ټاکل او کنترول په خپل لاس کې اخستي دي او د لاندی نه پورته خوا بدلون ته رابولي.»

## نوري بيلګې

د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۴ ترمنځ، د کمونيزم نه وروسته ۵ دولتونو يعنی جورجيا،اوکراين،سلواکيا، کروئشيا او سربيا، د«بريا نه ډک انقلابونه» تجربه کړل. مدني ټولنی په هر دغه هيواد کې خپل هماغه رول ولوبوو. بيا هم د مدني ټولني اصلي هڅه او کار د عادلانه او آزادو ټول ټاکنو غوښتنه وه. په اصطلاح « دآزادو ټول ټاکنو غورځنګونه» چې مدني ټولنی ته قوت وربخښي او هغه د ښکاره سياسي فعاليت سره تړلی بولي، په ټوله نړۍ کې هغه وخت ترسترګو کيږي چې ملتونه د ډيموکرايتک بدلون د راوستلو لپاره مبارزه کوي. په دې اړه فليپين، ګا نا، ايران او کېنيا وروستني بيلګې دي.

## د ټول ټاکنو وروسته

د عادلانه او آزاده ټول ټاکنو نه وروسته، مدني ټولنه د ورځنۍ حکومتدارۍ هغه اړخونو ته مخه کوي چې لړه هياهو او لړه برجستګي لري خو خورا ډير مهم دي. مدني ټولنه هره ورځ د ظلم نه ډکو قوانينو د له منځه وړلو، د فساد بربنډولو او د ټولو ډلو مناسب استازيتوب، ګټو او نظرياتو د خوندي ساتلو لپاره مبارزه کوي. هغوی هڅه کوی چې دولت دی ته اړ کړي چې حساب ورکړي او ډاډمن شی چې دولت د لوبی د اصلولو سره سم چليږی. لکه څرنګه چې جمهور رئيس اوباما په ۲۰۰۹ کال کې په قاهره کې وويل،«بايد واک نه په زور بلکه د اکثريته خلکو په خوښه وساتل شی. بايد د اقليتونو حقوقو ته درناوی وشي: بايد د زغم او صبر اوګذشت يا تيريدلو نه کار واخستل شي: بايد د خپلو خلکو ګټي او په مشروع توګه د سياسي پروسی مخ ته وړل د خپل ګوند نه پورته وګڼل شی. ددې اجزاو نه پرته، ټول ټاکني يوازی نشي کولي واقعي ډيموکراسي لاس ته راوړي.»

د ۲۰۰۵ کال، د ډيموکراسی نه تر ټول ټاکنو پورې *From Elections to Democracy*، په نوم خپل انعام ګټونکې کتاب کې، د ييل پوهنتون استاده سوزان روزاکرمن يو شمير داسې عوامل په ګوته کوي چې څرنګه کيدی شي حکومت حساب ورکوونکي شي. هغه په دې باور ده چې يوازې ځپانده مدني ټولنه دا توان لري چې ډيموکراسي جوړه کړي. هغې وويل،« د داسی ادارو جوړول چې وکولی شي په سياست کې د ټولو خلکو او ډلو ګډون لپاره زمينه برابره کړي، بايد د سوسياليزم نه وروسته دولتونو او په ټوله نړۍ کې د جوړښت په حال کې حکومتونو په اجنډا کې تر ټولو لوړ ځای ولري.»

## د مدني ټولنی د نشتوالي په حالت کې

په وروستيو کلونو کې مو داسی مثالونه هم تر سترګو شول چې کيدی شی هلته ټول ټاکني ترسره شوي وي، خو فعالي مدني ټولني پکې نشته دی. د هغو هيوادونو د حالت د بيانولو لپاره چې تر يوه حده سيالی نه ډکې ټول ټاکني په کې شوي دي او مدني ټولني پکې يا ډيري کمزوری دي يا يی دومره وده نده کړې چې دولت حساب ورکولو ته اړ کړي، پوهانو هغوته د «بې اثره ډيموکراسي»، «کنترول شوی ډيموکراسي»،«متعصبه ډيموکراسي» او « سيالی نه ډک استبداد» په څير نومونه جوړکړي دي. دغه حالت، د کمونيزم، نه شاته دولتونو لکه بلاروس(۲۰۰۵) او قرغيزستان کې چې په (۲۰۰۸) ميلادی کال کې، ډيموکرايتک انقلاب په کې ناکامه شو، په ډيره روښانه توګه ليدل شوی دی. مدني ټولني په دغو هيوادونو کې په زياته توګه په مرستندويه کسانو پوری تړلي دی او د سترو ښارونه نه بهر ډير کم کار کوي. له همدی کبله کله چې مدني ټولني په دغه هيوادونو کې د «آزداه ټول ټاکنو غورځنګ» لپاره آواز اوچت کړ، هيڅ څوک ورسره يوځای نشول. د نورو هغه هيوادونو له ډلې نه چې سستی او کمزوری مدني ټولني د واکمنو ټاکل کيدو لپاره کار کړی، ماليزيا، روسيه او کمبوديا دي.

په وينزويلا کې برعکس، پياوړی او مخ په ودې مدني ټولني ونشو کړی هغه ځپانده ليبراله ډيموکراسي خوندي وساتي چې د ۱۹۹۰ وروستيو کلنو کې په دغه هيواد کې واکمنه وه. لکه د زمبابوی په شان د وينزويلا حالت، ددې خبرې څرګندوی دی چې کله کله د «لاندې نه پورته» ځواکونه يوازی کار نشي کولی: نړيوال فشار يا ټينګار، د قضايه او ټول ټاکنو کميسيون په شان دولتي اداری، او د مهمو سياسي مشرانو فيصلې د ډيموکراسی د خوندي ساتلو لپاره ضروري دي. او ځنې وخت، په حقيقت کې يوازی ټول ټاکني نشي کولې د داسی ټولنيز حرکت سبب شي چې مبارزه وګڼلی شي.

له نيکه مرغه، سياسي آزادی خپل ځواک او توان لري. که مدني ټولنه يو ځلی په کار پيل وکړي او مخه يی خلاصه وي، نو بيا د هغوی ودرول سخت کار دی. جمهور رئيس اوباما اود بهرنيو چارو وزيری هيلري کلينټن ډير په ځای د ټول ټاکنو په دروان او وروسته د ډيموکراسی په پياوړي توب کې د مدني ټولني په کردار باندې ټينګار وکړ. دواړو په ډير وياړ دا قصد وکړ چې د امريکا مدني ټولنه او ډيموکراسي به پياوړي کړي. جمهور رئيس اوباما په دې اړه خپل نظر داسی څرګند کړ- د ټولني د يو کارکوونکي په صفت، ددی ملت رهبر د مدني ټولنی او اغيزمنې ډيموکراسی ترمنځ سمبوليکه اړيکو په درلودلو ډير ښه پوهيږي.

---

په دې ليکنه کې بيان شوي نظريات لزوماً د امريکا د دولت د نظرياتو او سياستونو ښکارندويي نکوي.

# د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال جمهوري ریاست د واک انتقال: د بریالیتوب نه ډکه همکاري

مارتا جوینټ کمار



© عکسونه د ای پي، ایوا وچي

د ۲۰۰۸ کال جمهوري ریاست لپاره د ټول ټاکنو څخه لږ څه کم یوه اونۍ وروسته، جمهور رئیس جورج ډبلیو بوش او نوی ټاکل شوی جمهور رئیس بارک اوباما دخصوصي لیدو کتو لپاره، Oval Office دفتر ته د تللو په حال کې.

**مارتا جوینټ کمار، چې د ټوسن مریلینډ په ټوسن پوهنتون کې د سیاسي علومو استاده ده، د امریکا په جمهوري ریاست کې تخصص لري. د جمهور رئیس پیغام رسول: د سپینې ماڼۍ د احکامو او پیغامونو درسولو،لارې چارې (۲۰۰۷) په نوم د نوموړې کتاب په ۲۰۰۸ کال کې د ریچارډ ای. نیوسټاټ جایزه وګټله. دهغې په نورو خپرو شوو کتابونو کې، د جمهور رئیس څېړل: سپینه ماڼۍ او خبري رسنۍ (۱۹۸۱) شامل دی. اوس مهال هغه د سپینې ماڼۍ لخوا د غیرحزبي انتقالي پروژې رئیسه ده.**

**د جورج ډبلیو بوش نه بارک اوباما ته واکمنۍ ورسپارل، د تلونکې او راتلونکې ادارې، د ډېرو میاشتو تیارۍ او کار، د امریکا د جمهوري ریاست بدلون تر ټولو آسانه او په آرامه تر سره شوو، بدلونونو له جملې څخه یو بدلون ګڼل کیږي.**

د ۱۹۵۲ کال نه را په دې خوا د امریکا جمهور رئیسانو د اجرائیوي څانګې په اړه معلومات را غونډ او راتلونکو جمهور رئیسانو ته یی ورکړي دي. دا کار له دې کبله پیل شو چې د امریکا سیسټم سره سم نوی ټاکل شوی جمهور رئیس د رسمي دندې د پیل کیدونه مخکې، باید په تیره بیا حکومتي دندو ته ټاکلو کسانو په اړه ډېرې مهمې فیصلې وکړي. د جورج ډبلیو بوش نه بارک اوباما د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال بدلون ترټولو ډېر آرامه او اغیزمنه بدلون و. حتی، د ټول ټاکنو نه مخکې، دواړو خواو د اغیزمن او ښه بدلون رامنځ ته کیدلو ته ډېره پاملرنه کړې وه. د دغه اغیزمن بدلون یو دلیل هم د اوباما اداری دا توان وه چې وی کړی شول چې واک ته د رسیدو په لومړیو ورځو کې خپلې یو شمیر موخې ترلاسه کړي.

د ټاکل کیدو او پرانېستنې د مراسمو تر منځ په تقریبا ۷۵ ورځو کې، نوي جمهور رئیس د خپلې پالیسۍ سیاسي لومړیتوبونه اعلان کړل. مخکې له دې نه چې وشي کړی خپلې راتلونکې برنامې عملی کړي، هغه باید دغه لاندینۍ چارې ترسره کړې وای:

- هغه معلومات یی لاس ته راوړي وي چې دهغو پر بنسټ ولسمشر خپلې فیصلې وکړي.
- د سپیني مانی لوړپوړي چارواکي او د هغوی دندې یی ټاکلي وای.
- په ۱۵ اجرائيوي څانګو کې د لوړپوړو چارواکو او سپيني مانی لپاره د کارکوونکو د ټاکلو او درجه بندی برنامه یا پلان یی جوړکړی وای.

د پورتنیو چارو ترسره کیدو نه وروسته، په رسمي توګه د خپلی دندی په لومړیو لسو ورځو کې جمهور رئیس بارک اوباما د بیلو بیلو چارو او موضوعاتو په اړه نهه اجرایی او نهه ریاستي فرمانونه او حکمونه لاس لیک کړل. ډیر ژر، هغه د برابر معاش، د ماشومانو روغیتایی بیمه، او د هیلو نه ډک اقتصادي پروګرام په اړه قانون لاسلیک کړ او په دې توګه یی د ټول ټاکنو د مبارزو په لړ کې، خپلې دغه ژمنې پوره کړې.

د درې پرمختګونو شتون جمهور رئیس اوباما ته په تیزی سره د خپل کار د پیلولو وس ور په برخه کړ: لومړی، جمهور رئیس بوش ډیر ژر د بریا نه ډک بدلون رامنځ ته کیدوشخصي وعده وکړه. د ۲۰۰۷ کال په وروستیو کې د ټول ټاکنو نه لا ډیر مخکې، بوش د سپینی مانی د کارکوونکو رئیس جاشوابولټن ته د اغیزمن بدلون رامنځ ته کیدو په هکله لارښوونه کړی وه. دویم، د ۲۰۰۸ کال په لومړیو کې او بیا هم د ټول ټاکنو نه ډیر مخکې، بارک اوباما د واک د بدلون د پروګرام جوړولو لپاره مناسب، جوګه او پوهه کسان وټاکل. دریم، د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ۱۱ پیښی نه وروسته، د فدرالي دولتونو ټولی برخې، د دولت د چارو په وړاندې د ګواښونو په اړه ډیر زیات حساس شوي وو او دې ته تیار وو چې راتلونکي بدلون په آرامه ترسره شي. جمهور رئیس بوش وړاندیز وکړ او د امریکا کانګرس هغه قانون تصویب کړ چې دهغه پر بنسټ راتلونکي جمهور رئیس ته د ملي امنیت په اړه معلوماتو ورکول ضروري دي.

## د بوش ادارې چارواکو له خوا د واک د سپارلو ډیر مخکې پلان جوړونه

په داسی حال کې چې ډېر واکمن جمهور رئیسان، د واک بدلون لپاره چمتوالي د خپل حکومت په وروستیو میاشتو کې، پیل کوي، جورج ډبلیو بوش دغه کار د بدلون رامنځ ته کیدو نه یو کال وړاندې پیل کړ.جاشوابولټن وایې چې څرنګه جمهور رئیس بوش په ۲۰۰۷ کال کې هغه ته لارښوونه وکړه چې «باید ډیره هڅه وکړي تر څو واک او بدلون په تیره بیا د ملي امنیت په برخه کې تر کیدونکي حده اغیزمن او بی جنجاله ترسره شي.» ډیر له پخوا نه د دغه کار پیل کولو حکومتی چارواکو ته دا فرصت ورکړ چې د ولسمشرئ د ټاکنو استازو سره لومړنی پړاو وروسته او د ټول ټاکنو نه ډیر مخکې خبری اترې وکړي.

نوی جمهوررئیس ، د ۱۵ څانګو او تقریبا ۷۰۰۰ دندو- او د ۱۲۰۰ ډیرو مهمو دندو په ګډون چې د سنا له خوا باید تصویب شي ـ د ټاکلو لپاره، د د دغو دندو په اړه، دا چې څرنګه دغه څانګی خپلی اجرائيوي چارې ترسره کوي او د ځانګړو سیاستونو، او نوښتونو د جوړولو د وضعیت په اړه ډیرو زیاتو معلوماتو ته اړتیا لري. د ۲۰۰۸ کال د پسرلي تر نیمایی، د بوش اداری چارواکو د دغو معلوماتو راغونډولو او راتلونکي بریالي جمهور رئیس ته دورکولو کار پیل کړ.

د اجرائیوي څانګو او نورو چارواکو ترمنځ هماهنګي، د اغیزمنه او بی جنجاله واک سپارلو ډیره مهمه برخه ده. د جمهور رئیس د چارو مدیریت شورا (پي ایم سي) چې ۲۲ ډیرو مهمو ادارو غونډه ده، رئیس کلي جانسن په پسرلي کې د دغه شورا استازو ته د بدلون په اړه خبری وکړې. دغو ادارو د یوعمومي اداري پلان او دخپل کار لپاره د یو چوکاټ جوړولو لپاره کار وکړ. جانسن د دغې اداری مامورینو ته وویل چې اولیتونو ته پاملرنه وکړي، «البته ګرمو اوجالبو خیزونو ته نه، بلکه د ډیر ارزښت وړ څیزونو ته، هغې اړتیا او ځانګړو معاملاتو ته چې نوی رهبري به ورسره مخامخ کیږي، پاملرنه وکړي....»

د ملي امنیت په برخه کې، جمهور رئیس بوش شخصا ۴۰ هغه حکمونه وڅیړل چې د ملي امنیت مشاور ستیفن هاډلي د لارښووني پربنسټ جوړشوي وو، ترڅو راتلونکي جمهور رئیس او دهغه ټیم د نړی دمهمو پیښو او مسلو په اړه معلومات ترلاسه کړي شي. هاډلي همدا شان ۱۷ احتمالي پروګرامونه یا پلانونه جوړ کړل. هغه وویل،« که چیرته ډیر سخت حالات رامنځ ته شي، دا به د حل ځینی لاری وي.» په داسی حال کې چې دغه احتمالي پلانونه د پرمختګ په حال کې و،جاشوا بولټن وویل چې « زمونږ د تعویق په حال کې دغه روانیدو.... واقعا مونږ سره پدی پاملرنی کی مرسته وکړه چې د ورتګ نه مخکې ټول کارونه سم وی.»

## د نوي ټاکل شوي جمهور رئیس بارک اوباما د واک انتقالي پړاو اجرأت

بارک اوباما د واشنګټن یو ډیر با تجربه سړی، جان پوډستا، د خپل انتقالي پړاو د چارو د سنبالو لپاره وټاکه. پوډستا د کلینټن په حکومت کې د سپیني مانی اداری رئیس و. که څه هم پوډستا اوباما په ښه توګه پیژانده، خود هغه سره یی نژدی اړیکې نه درلودې او نه یې غوښتل چې د اوباما په حکومت کې کار وکړي. دغو خبرو ډیر اهمیت درلود ځکه ټول په دې پوهیدل چې پوډستا خپل ځان ته د کار موندلو په لټه کې ندی. د اوباما انتقالي پړاو رئیس، کرس لو، دې ته خبری ته اشاره وکړه چې د اوباما انتقالي پړاو چارواکي په دې ښه پوهیدل چې باید له هغه کسانو نه ډه ډه وکړي چې په راتلونکي حکومت کې ځان لپاره د دندی موندلو په لټه کې دي. لو وویل « مونږ نه غواړو چې دغه کسان د خپلو راتلونکو دندو په لټه کې وي.» او دا هغه سبق دی چې په پخوانیوانتقالي او حکومتی ادارو کی کارکوونکو کسانو د تجربو نه اخستل شوی دی.

پوډستا په روښانه توګه وویل چې څرنګه د دغې اداری د څارنی ټیم عملي، او په ښه او آسانه توګه دپوهې وړ معلومات نوي حکومت چارواکو ته ورکړل :«کولی شی پروګرام، یوه اداره، مالي پلان جوړ،[او ووائي چې] دا ستونزې دي، څنګه کولی شی د هغو د پاره د حل لاره پیدا کړی او هغه نتیجه ترلاسه کړی چې اوباما هم د

زمینه برابره کړه اود بوش ټیم د مهمو انتقالی پړاو چارواکو په اړه ملي امنیتي پلټنې د ډیر مخکې نه پیل کړي. د اظطراري حالت په اړه نوی ټاکل شوي رئیس جمهور چمتو کولو په خاطر، جمهور رئیس بوش او د هغه چارواکو د ۲۰۰۹ کال د جنوري په ۱۳ یعنی د اوباما د تحلیف نه یوه اونۍ مخکې د سپینې ماڼۍ په میدان کې د اظطراري حالت روزنه ورکړه.

## نتیجه

د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال د واک بدلون ددی کار ګټه په ښه توګه ښایی چې جمهور رئیس د ډیر مخکی نه او په بشپړه توګه د واک د بدلون لپاره د چمتو کیدلو امر وکړي. د جمهور رئیس بوش ترلارښووني لاندې، د سپینې ماڼۍ د کارکوونکو رئیس جاشوا بولټن په پراخه دولتي هڅو کې د دی کار مشري وکړه چې د نوي حکومت اړتیاوی لومړی روښانه او بیایی عملي کړي. بارک اوباما هم په دغه پروسه کې مرسته وکړه څکه چې هغه راتلونکي بدلون د ترسره کیدو او څرنګوالي لپاره ډیر له مخکې نه یو مکانیزم جوړ کړ او بیایی په ډیر زیرکتوب سره بی غرضه کسان د خپل انتقالي ټیم د لارښوونی لپاره وټاکل. د ۹-۱۱ نه وروسته امنیتي ګواښونو او چلنجونو ټوله پاملرنه په ښه او اغیزمنه توګه د واک بدلون ته راوګرځوله.

په اوسنیو حالاتو کې امریکایی، جمهور رئیسان نشي کولې د واک سپارلو بدلون لپاره چمتو کیدل ، ټول ټاکنو نه وروسته وخت ته پریږدي. قانون، حکومتی فرمانونه، شخصي هڅو، کانګرس، جمهور رئیس بوش او په ادارو او څانګو کې مامورینو او سیاسي چارواکو ټول ډیر سخت کار وکړ ترڅو راتلونکې جمهور رئیس او د هغه ټیم دولتی مسولیتونو اخستلو ته چمتو کړي.

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندویي نکوي.



© عکسونه د ای پی، جې سکاټ اپلوایټ

د ډله ئیزو وژنی د وسلو تولید، د تروریزم مخنیوی کمیسیون دوه رئیسان، د فلوریډا پخوانی سناتور باب ګراهام (کیڼ خوا) او د میسوري پخوانی سناتور جیم ټالنټ (ښي خوا) د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په ۳ واشنګټن کې، د راتلونکې جمهوري ریاست په دفتر کې ټاکل شوي مرستیال جمهور رئیس جوبایډن او د کورني امنیتي چارو، راتلونکي وزیر جانیټ نپولیتانو ته را پور ورکوي.

خپلې انتخابی مبارزې په پړاو کې دهغو وعده کړی وه او بیا یې په انتقالي دوران او ان د خپل حکومت په لومړي سرکې هم په تفصیل سره وړاندی کړی وو.» همدا شان پوډستا وویل،«د کابینې وزیرانو او د سپینې ماڼۍ کارکوونکو ته داسی ستراتیژیکه نیتجه ورکړه چې په ښه توګه وربانډی پوهیدل او د راتلونکې کابینی وزیرانو سره په خبرو اترو کې، هغوی د خوښۍ او رضایت څرګندونه وکړه چې په متمرکزه توګه، په ښه توګه لیکل شوي، څارل شوي او د دریم ځل لپاره لیکل شوي ۳۰ پاڼې یی ترلاسه کړي او نه د پخوا په شان بی ځایه او بی ګټی ۵۰۰۰ پاڼې.» دا هغه څه دي چې راتلونکې چارواکې د دندو او مسولیتونو د سمبالولو سره سم ورته اړتیا لري.

## د ۱۱ سپټمبر نه وروسته د واک سپارلو اټکل کول

هغه دریم فکټور یا دلیل چې د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کال په واک سپارلو کې مهم رول درلود، په پراخه پیمانه ددی خبری منل و چې د ملي امنیت انتقال آرامه او بی جنجاله سپارلو ته اړتیا لري. حکومت د امریکا متحده ایالاتو پر ضد تروریستی حملو په اړه د ملي کمیسیون (د ۹-۱۱ کمیسیون) د جوړیدلو امر ورکړ ترڅو ملي امنیتي پروسې لاره نوره هم ښه کړي او د امنیتي ګواښونو په اړه معلومات راغونډ او د دولت ته یی ورکړي ترڅو نوی حکومت وکړې شي ډیر ژر عمل وکړی که چیری کومه امنیتي مسله راپیښه شي. د امنیتي پروسي نه د تیریدو کارونه ډیر په ورو ترسره کیدل، د ډیرو کسانوله نظره، په پخواینو ادارو کې د ډیرو کسانو مقرریدل په بی ځایه توګه ځنډول شوی وو.

د اجرایی څانګی چارواکو د مقرریدو پروسې د ګړندي پرمختګ لپاره، کانګرس د امنیتي پروسې د ډیر مخکې نه د پیل کیدو لپاره

# دخلکود ارادی عملی کول



© عکس د ای پي

د سویلي افریقې جمهور رئیس فریډریک ویلیم دی کلرک (کیڼ خوا ته) او د افریقا ملي کنګرې موقت رئیس نیلسن منډیلا د ای ان سي او سویلي افریقا د دولت ترمنځ د خبرو اترو څخه مخکې، کیپ ټاون، د ۱۹۹۰ د مې ۱۰.

ایف.ډبلیو.دی کلرک او نیلسن منډیلا په دی نوي دور کې، په سوله ایزه توګه د ټولو کړکیچن او ستونزو نه ډک سیاسي واک انتقال یا بدلون کی ډیر مهم رول لوبولی دی. د نژادي تبعیض یا اپارتایډ نه ډکی سویلي افریقا کې د جمهور رئیس په توګه د دندې سنبالولو سره سم، دی کلرک منډیلا چې دغه مهال ۷۱ کلن و، د تقریبا ۳ لسیزو بند څخه آزاد کړ. هغه مذاکرات یا خبری اتری چې زندان نه د منډیلا د راخلاصیدو نه سمدستي وروسته پیل شوي، تورپوستکو افریقایی خلکو ته دا ډاډ ورکړ چې وبه کړی شي د آزادو او عادلانه ټول ټاکنو له لارې واک ترلاسه کړي او سپین پوستکي یی په دی قانع کړل چه، هغوی ته به قانوني ډیموکراتیک تحفظ ورکړل شي، ان وروسته له هغه هم چې واک هغه کسانو ته وروسپارل شي چې د دوی د ظلم لاندې وو.

د ۱۹۸۹ کال «مخملي يا بخملي انقلاب» چې بې له اخ او ډب نه يې کمونيست رژيم په چکسلواکيا کې راو غورځاو، د هغو مخالفو ډلو له خوا يې لاربنودنه کيدله چې د رژيم په ضد يې په لاس لیکل شوی پټې لیکنې (سميزدت) خپرولې. د جګړې نه وروسته، په ۱۹۹۰ کال کې د هيواد په لومړنيو او آزادو ټول ټاکنو کې، واسلاو هاويل چې ډير کلونه يې د کمونيستانو په بند کې تير کړي و،د چک جمهوريت د جمهور رئيس په توګه وټاکل شو. په ۱۹۹۳ کي وروسته له هغه چې چکسلواکيا په سوله ايزه توګه د چک او سلواکيا په جمهوريتونو وويشل شوه، هغه د چک لومړنی جمهور رئيس شو.



© عکس د ای پي

واسلاو هاويل چې دچک يو مخالف او ډرامه ليکوونکی دی، د سياسي ګوندونو او مخالفو ډلو ترمنځ د نوي دولت د جوړولو په اړه په يو ګردي ميز کی خبرې کوي.
د۱۹۸۹ کال د ډسمبر ۸.

«لويديځو خبرياالانو به مونږ ته ويل: تاسی د روشنفکرانو يوه کوچنی ډله ياست چې د يو بل سره جګړه کوی، کارګران ستاسې شاته ولاړ ندي، تاسو سره د ميليونونو خلکو ملاتړ نشته او يوازی خپل سرونه د خښتو ديوال سره ټکوئ. او ما به دا ځواب ورکاوه، چې په مستبد سيستم کې مونږ هيڅ کله نشو ويلی چې د دغې مسلی تر شا څه پټ پاتي دي ځکه چې مونږ هغه نشو معلومولی. مونږ د خلکو نظرياتو باندې د پوهيدلو لپاره کومه لاره نه درلوده او نه مو هم آزادې خپروني درلودلی. خو مونږ پوهيدلو چې د خلکو په ټولنېز تحت الشعور کې، يو څه تېرېږي. زه په دې ډيره ښه پوهيدم چې اول وی که آخر يوه سياسي او ټولنيزه چاودنه کيدونکې ده، يا دا چې دا حالت تل داسی نشي پاتې کيدې ځکه چې مونږ ليدل چې ځرنګه هر شی او هر ځوک يوله بل سره يوځاې کيدل. دا روښانه وه چې يوی ناڅاپی پيښي کولی شو، ستر بدلون راوپاروي. او دا ټول شيان به لکه د واوری د توپ په څېر غټ شي او يو ستر بدلون به رامنځ ته کړي.»

— واسلاو هاويل په ۲۰۰۸ کال کې د سالون آدام ميچنيک سره د هغو حالاتو او مسايلو په اړه د مرکې په مهال دغه خبرې وکړې چې بخملي انقلاب يی رامنځ ته کړ.

مدني ټولنی خپل پياوړی نقش، په ډيره ښه توګه وښود: ليخ واليسا چې د پولينډ په ګډانسک کې د لنين د بيړی جوړولو په کارخانه کې، د برقی په توګه دنده درلوده، په ۱۹۸۰ کې يې د يووالی يا ساليډاريټی ترنامه لاندې د لومړني ځل لپاره په شوروي بلاک کې يوه خپلواکه کارګري اتحاديه جوړه کړه. د هرې ورځې په تيريدو سره ددغې اتحاديې د پياوړی کيدو له کبله، د پولينډ دولت د جنرال ووسيچ ياروزلسکي تر مشرۍ لاندې نظامي حکومت اعلان کړ. خو سره له دې، د پولينډ خلکو ملاتړ د د غه يووالي شتون ته د يوسوله ايزه غورځنګ په توګه ادامه ورکړه. په ۱۹۸۹ کال کې رژيم تر يوه حده آزادې ټول ټاکنې ترسره کړې. په ۱۹۹۰ کال کې ليخ والسيا د پولينډ د جمهور رئيس په توګه وټاکل شو.



عکس د ويتولد روزنيسلويکز، ايپا، کوربز

د ۱۹۸۱ کال د مارچ ۱۰، وارسا، مزوويکي، پولينډ: د يووالي ياساليډاريټی غورځنګ لاربنود ليخ والسيا(ښی خوا ته) پولينډي وزير وسيک ياروزيلسکي سره ليده کاته کوي.

نيپال، د ۲۰۰٦ م کال نه را په دې خوا، د خلکو له خوا دعمومي ټولنيز، اعتصاب له امله چې د ډيموکراسۍ پلوېانو ته يې د ظالم پاچا ګيانيندرا په را پرځولو کې قوت ورکړ، لا ډيره آزادي لري. نوي اساسي قانون د پاچاهي پای او د جمهوري پارلماني سيستم د پيل اعلان وکړ چې د ۲۰۰۸ کال دتر ډيره حده آزادو او عادلانه ټول ټاکنو لپاره يې لاره پرانيستله. که څه هم ټول ټاکنې د اخ او ډب سره مخامخ شوی او خبريالان لاتراوسه هم تر حملې لاندي دي، خو د قانون پلي کولو په برخه کې ډير زيات ښه والی رامنځ شوی.




© عکسونه د ای پي، منيش سواروپ

نيپالي وګړي د ۲۰۰۶ کال د ډيموکراسۍ لپاره په هغه مظاهر ه کې دپاچا ګيانيندرا پيغام لولي چې چې ۱۵۰۰۰۰ کسان، د نيپال د پاېتخت کټمندو په سړکونو او لارو کوڅو کې راغونډ شوی و.



© عکسونه د ای پي، مارکو یوګارټ

لوپيز اوبرادور، په داسی حال کې چې په مکسيکوستی، کې يې د خپلو پلويانو دستر او سوله يز اعتراض رهبري کوله، په ټول ټاکنو کې يې د بی نظمۍ نه شکايت وکړ او د نتايجو د بيا شميرلو غوښتنه يې وکړه. دغه ټربيونل د ټول ټاکنو په اړه د مکسيکو تر ټولو لوړه مرجع ده، او د څيړنی وروسته يې کالډيرون بريالی اعلان کړ چې په سلو کې يې ۳۵.۸۹ رای (۱۵۰۰۰۲۸۴ رای) تر لاسه کړې وی په داسی حال کې چې لوپيز اوبرادور په سلو کې ۳۵.۳۱ (۱۴۷۵۶۳۵۰ رای) ګټلې وی.

د مغلستان جمهوري رياست  ته کانديد (د ښي خوا نه) ايلبيګدوري ساخيا پلويان د ۲۰۰۹ کال په اپريل کې  په الانباتور کې  سره را غونډ شوي.

© عکس د ای پي، بتسوخ



دمنګولېا يا مغلستان، د سيالېونه ډکې  پارلماني ټول ټاکنې  چې وروسته په ۲۰۰۸ کال کې د اخ اوډب سره مخاخ شوی، ايلبګدوري ساخيا په سلو کې ۵۱.۲۴  درا يو په لاس ته راوړلو سره د مغلستان، د  انقلابي ګوند مشر نامبارين انخبايار ته چې په سلو کې يی ۴۷.۴۷ رای ګټلې وي، ماته ورکړه.  سره د ډير کم توپيره ، ښاغلي انخبايار خپله ماته په ډيره ښه توګه ومنله او هيڅ ډول اخ او اډب پيښ نشو.



© عکسونه د ای پي، دی.ريتشتور

پخوانی جمهور رئيس نمبارين انخوبيار(په اوله کرښه کې ښي خوا ته) او ايلبيګدوري ساخيا په النباتور، مغلستان کې د تحليف د مراسمو په مهال يو بل ته لاس ورکوي.



© عکس د ای پي، ايرالدو پيرس

په برازيل کې د مدني ټولنې غړي په پراخه توګه انټرنيټ نه کار اخلي. د ۲۰۰۹ کال ديوی عمومی جلسې په دوران کې د کاياپو قبيلې يو بومي کس په خپل کمپيوتر يا لپ ټاپ کې کار کوي. د آمازون ځنګلو کې ميشته بومي خلک د برازيل دولت په خلاف چې غواړي د سينګو په سيند باندې يو لوی بند جوړ کړي، اعتراض کوي.

د یو هنرمند په لاس جوړ شوی د گانا د درې وروستيو جمهور رئيسانو څيرې:(د کيڼ خوا نه ښي خوا ته) اوسنی جمهور رئيس جان اتا ميلز، جيري راولنگز(۱۹۹۳-۲۰۰۱) او جان کوفور(۲۰۰۱-۲۰۰۹).




© کواکو ساکوې-اددو ، روېټرز ،کاربز

د گانا د ۲۰۰۹ کال پارلماني او جمهوري رياست لپاره ټول ټاکنو په سوله يزه او ډيموکراتيکه توگه د واک سپارلو بدلون وښود. د برتانيا نه د خپلواکي اخستلو وروسته او د ۱۹۹۶ کال ټول ټاکنو، د گانا، سياست د کودتاگانواود تقلبي ټول ټاکنو سياست و. خو وروسته له دغه مهال نه، د ځينو اخ اوډب پيښو او ټاکلو کې بی نظميو نه پرته، ټول ټاکنې تر ډيره حده آزادې او عادلانه ترسره شوي. د بيان اومذهبي، غونډو آزادي او نورو دغه ډول بنسټيزو مدني حقوقو ته په گانا کې په درنه سترگه کتل کيږي.

۲۰۰۳ کال اگست: د پيرو د رښتيا او جوړی کميسيون جمهور رئيس اليهاندرو توليدو ته خپل راپور وړاندي کوي. دغه کميسيون د ټولنې مشران، اکاډميک کسان، خبرياﻻن او نور سره يو ځاې کړل ترڅو د شيننگ پت او تيوپک آمارو د انقلابي غورځنک وسله والو ډلو او پيرو پوځ له خوا ترسره شوي، قتل عام، تري تم کيدو ی ورکيدو او نورو بشري حقوقو تر پښو لاندې کولو مسولينو، جرمونه او تورونه معلوم کړي.




© عکس د ای پی، مارتين ميبا فايل

# له هربرټ هوور نه فرانکلین ډي. روزویلټ ته: بحران په وخت کې د قدرت انتقال

ډونالډ اې. ریچي



© عکس د ای پي

۴ مارچ ۱۹۳۳، د امریکا ولسمشر هربرټ هوور او نوی ټاکل شوی ولسمشر فرانکلین ډي روزویلټ د سپینې ماڼۍ مخې ته له یوه بل سره د روغ بړ په حال کې لیدل کیږی. د دوه میاشتې مخکې قانوني ترمیم له مخې بالاخره د نوي حکومت د پیل لپاره د جنوري ۲۰مه وټاکل شوه.

**ډونالډ اې. ریچي د امریکا د مشرانو د جرګې تاریخ پوه دی. څو کتابونه یې لیکلي چې وروستي یې :**

**د ایف ډي آر ټاکنه : د ۱۹۳۲ د نوي قرارداد مبارزه (۲۰۰۷)، او له واشنګټن نه رپوټونه: د واشنګټن د مطبوعاتو د کلوپ تاریخ (۲۰۰۵) نومیږی.**

**د اقتصادي رکود زمانه، د ولسمشر هربرټ هوور نه فرانکلین ډي. روزویلټ ته د واک انتقال، په سیاسي لحاظ ډیر سخت وو، خو د امن په فضا کې تر سره شو او له هغه وخت نه اخیستل شوو درسونو د امریکا په راوروسته ولسمشرانو باندې هم تاثیر لرلی دی.**

د لوی اقتصادي رکود په څیر کمی پیښی شوي دي، چې ډیموکراسی یې د ډېر قوي ازمېښت سره مخامخ کړې وي. ځینې ډیموکراسئ ددې زور په نتیجه کې له منځه ولاړې. په جرمني کې، ویمر جمهوریت د نازیانو په لاس کې پریوت. ددې پیښې دوه میاشتې لا نه وې پوره چې په امریکا کې ولمسشري له هربرټ هوور نه فرانکلن روزویلټ ته وسپارل شوه. په امریکا کې د قدرت هیڅ لیږد په دې ډول سخته توګه ندی تیر شوی. ددې تجربې د تیرېدلو نه وروسته امریکایي ډیموکراسي ډیره قوی او پیاوړی شوه.

د امریکا اقتصاد چې د ۱۹۲۹ کال د ونډو او اسهامو د بازار د رالویدلو په نتیجه کې د لوی رکود سره مخامخ و، د ۱۹۳۲ د ولسمشرئ د انتخاباتی مبارزو نه سمدستی وروسته نور هم راولوید. د ټاکنو نه وروسته په ژمي کې، په زرګونو بانکونه له

کاره ولویدل، ډېر تجارتونه وتړل شول او د ملک څلورمه برخه کارګران بې کاره شول. خلکو د خپل بدحالت ملامتي پر ولسمشر هوور وراچوله. هماغه وو چې هغه د خپل مخالف کانديد په وړاندې واک بايلود. خو په داسي حال کي چې د اساسي قانون يوه ترميم ته تمه وه چې د دواړو ولسمشرانو تر منځ د انتقال موده يې ويشلي وای، مګر برحاله نظام، بيا هم يوه څلور مياشتني ځنډ ته اړتيا لرله چې نوي ولسمشر ته د وفادارئ لوړه ورکړل شوي وای.

په هغه اوږده عبوري دوره کې، ولسمشر هوور راتلونکی ولسمشر سپيني مانۍ ته ور وغوښت چې د خرابې اقتصادي وضعې په اړه ورسره خبرې وکړي. روزويلټ ومنله او د خپلې ولسمشرئ د دورې له رسمي پيل نه مخکې يې درې ځلې په شخصي ډول له هوور سره وکتل. خو بيا هم، دوی دواړو د بحران د مخنيوي لپاره ډير مختلف نظرونه لرل. هوور د اقتصادي رکود په مقابل کې د ځينو نوښتګرو پروګرامونو ملاتړ کړی وو. خو د بې روزګاره خلکو سره د حکومت د مستقيمې مرستې کلک مخالف وو. فرانکلين روزويلټ (هم هغه شان چې مطبوعاتو يې په اړه ويل) ژمنه وکړه چې د امريکا د خلکو لپاره يو نوی پروګرام لري، او د اقتصادي بحران د ختمولو او يوې مصؤنې ټولنې د جوړولو دپاره يې د عملي ګامونو د پورته کولو ژمنه وکړه. هوور، رايه ورکوونکو ته وويل چې مبارزه د دوو افرادو تر منځ نه بلکه د حکومت ، د دوو فلسفو تر منځ ده، او خبرداری يې ورکړ چې په حکومت باندې د روزويلټ زياته تکيه به جدايي رامنځته کړي.

داسي وليدل شول، چې هوور په خپلو ملاقاتونو کې کوښښ کوي روزويلت دې ته وهڅوي چې د تلونکي حکومت اقتصادي پاليسئ ومني، که څه هم روزويلت ددې په مقابل کې د مبارزې په نتيجه کې تازه انتخابات ګټلي وو. روزويلټ وويل چې د زده کولو دپاره راغلی او د مشخصو پاليسيو منظورئ دپاره ندی راغلی. د حکومت د پيلولو مخکې هغه فکر کاوه چې د حکومت د کارونو د سرته رسولو کافي واک او قدرت نلري. بانکي بحران لا نور هم د ټيدو په حال کې وو، دوی دواړو د هوور، د حکومت په وروستئ ورځ سره وکتل. روزويلټ د هوور دا غوښتنه رد کړه چې د ټولو امريکايي بانکونو د تړلو يو ګډ تړون لاسليک کړي. هوور کولای شول چې له خپلې لورې دغه ډول يو فرمان خپور کړي، خو فکر يې وکړ چې له يوې خوا يې سياسي ماتي خوړلې او له بلې خو يې په خلکو کې محبوبيت هم راکم شوی دی، نو دا کار يې ونکړ. فرانکلين روزويلټ سبا ته منتظر وو چې د ولسمشرئ دفتر ته له رسيدو سم په عملي اقداماتو لاس پورې کړي. د روزويلټ په فکر، د ګډ اقدام دپاره د هوور ټينګار دا وښودله چې هغه پدې لا نه دی پوه چې نوي حکومت د چارو د پرمخ بيولو دپاره بل رنګه پروګرام جوړ کړی دی.

خو په همدې وخت کې، روزويلت د هوور د حکومت د خزانې د وزارت د لوړ پوړيو چارواکو دا غوښتنه ومنله چې دوی دې تر هغو په خپلو چوکيو کې پاتې شي چې نوي حکومت ته د عاجلې بانکدارئ د قانون مسوده تياره کړي. ددغه پلان له مخې، روزويلټ د بانکونو يوه رخصتي اعلان کړه، ټول بانکونه يې وتړل، او بيا يې يوازې هغه بيرته پرانيستل چې چليدلای شول، او حکومت يې پر کتابونو باندې دقيق پام ساتلی وو. د هوور زړه نا زړه توب د هغه نه وروسته ولسمشر ته په همدې پيل کې يو برياليتوب ور په برخه کړ. د روزويلټ د نويو پروګرامونو له مخې د بانکونو رخصتئ، د اقتصادي رکود د ختمولو په لاره کې ډير مهم ګڼل کيدل. له ښې وضعې سره د بانکونو د بيا پرانيستلو سره د خلکو اعتماد هم مخ په زياتيدو شو.

د هوور او روزويلټ تر منځ د انتقال د امن په فضا کې وو خو ډير ګټور نه و. څيړونکي يې پړه پر دوی دواړو ور اچوي: هوور په دې پړ بولی چې د روزويلټ څخه يې غوښتل د هغه څه نه زيات کار وکړي چې کوي يې؛ په روزويلټ له دې امله پړه اچول کيږی، چې د همکارۍ لپاره ئی ډيرشرايط برابر نکړل. له هغې تجربې نه تر لاسه شوو درسونو، په را وروسته وختونو کې تقريبا د ټولو ولسمشرانو تر منځ، حتی په ۲۰۰۹م کال کې له جورج ډبليو. بوش نه بارک اوباما ته ، د واک پر انتقال اثر درلود. تلونکی ولسمشر اوس راتلونکي ولسمشر ته د واک د انتقال دپاره کار کوي، د همکارئ ست ورته کوي او د پيشنهاد په توګه ځينې کارونه ورته ښيي، خو د هغه پر آينده پلانونو باندې د کوم کار د تحميلولو هڅه نه کوي.

---

په دې ليکنه کې بيان شوي نظريات لزوماً د امريکا د دولت د نظرياتو او سياستونو ښکارندويي نکوي.

## آيا خبر ياست؟

د اورکوټ Orkut د ټولنيز نيټ ورک د استعمالوونکو شمير: ۱۰۰ ميلونه دی.

د اورکوټ د کتونکو ډير شمير لومړی په برازيل او دوهم په هند کې دي.

د نيلسن منډيلا عمر: د بندی کيدو په وخت، ۴۴. د آزاديدو په وخت، ۷۱ کاله و.

نيلسن منډيلا، د جنوبي افريقا ولسمشرئ ته د رسيدو په وخت کې، ۷۵ کلن وو.

لومړنی امريکايي ولسمشر چې واک ته د بيا رسيدو لپاره يې په مبارزو کې ماتي وخوړه: جان ايډمز (۱۸۰۰م)

دا هغه جابر رومن امپراطوران دی چې د آډمز ملاتړ کوونکو به د هغه مخالف ، تامس جيفرسن، ورسره مقايسه کاوه: تيبريس، نيرو، کاليګولا

د هغو مامورينو تعداد چې د متحده ايالاتو نوی ولسمشر يې بايد مقرر کړي:تقريباً ۷۰۰۰

په ټاکنو کې د وينسټن چرچل د ماتې د ورځې او د صدراعظمئ د استوګنځی د تشولو تر منځ وقفه: يوه ورځ

د متحده ايالاتو د ولسمشر هيربرټ هوور د انتخاباتي ماتي او فرانکلين ډي. روزويلټ د وفادارئ د لوړې ترمنځ، د سپيني مانۍ د تشولو وقفه: ۱۱۶ ورځې.

# ازادی ټاکنې پولنډ څنګه نسبتا بدل کړ

آنه هوسارسکا


د کور KOR موسسې د پولېنډ کارګران وروزل او له دې سره یې اشنا کړل چې خپل حقوق وپېژني. کله چې په ۱۹۸۰مېلادي کې، د ګدانسکي د بېړۍ جوړولو په کمپنۍ کې اعتصاب پېل شو ، هغوی په ډېرۍ کامیابی سره د کارګرانو د اتحادیې د جوړولو غوښتنه وکړه. دالومړۍ ځل و چې د پخوانی شوروی اتحاد دنفوذ په حوزه کې دتجارت یوه ازاده اتحادیه جوړېدله. کمونیست حکومت هروخت د پولېنډ د مدنی ټولنې ډېرې نورې برخې ځپلې وې. دغه اتحادیه چې د سالېډاریټی په نامه یادېدله د پولېنډ د نورو مدنی ټولنو دنماېندګی لپاره دیوې عمومی مؤسسې په توګه منځته راغله. کمونیست رژیم دا ضروری وبلله چې سالېډاریټی دګردی مېز په بحثونو کې شامله کړی. په دې مسله باندی روغه جوړه وشوه چې ترېوې اندازی پورې ازادی پارلمانی ټاکنې وشی. رژیم ٦٥ فیصده چوکی د ځان لپاره په اولسی جرګه کې ساتلی وی.

سالېډاریټی تقریبا لس میلیونه غړی درلودل چې د پولېنډ د نفوس دریمه برخه کېږی. دغه تحریک ښایې په نړۍ کې د محبوبیت له درکه د نړۍ په تاریخ کې ترټولو مشهور تحریک وی. خو سره له دې هم دا ګرانه وه چې د ټاکنو دنتایجو اټکل وشی. ځکه چې دعامو خلکو د نظرپاتود معلومولو داسی منبع نه وه چه باور پرې وشی.

ما په هغه وخت کې د پولېنډ دسالېډاریټی په ورځپاڼه کې کار کاوه، چې د الېکټورل ګزېټ په نامه یادېدله. د ټاکنو په یوه ورځ ، د جون په ۴مه ۱۹۸۹ م کال کې ، سالېډاریټی، هېڅ یقین نه کاوه چې ټاکنې به وګټی. خومونږ، د ټاکنو دمبارزی لپاره، ځانونه ښه چمتو کړی وو.

کمونیستانو له خپلو خلکو سره د څو لسېزو راهیسې ټګی کوله، نوددې توقع وه چې په دې ټاکنو کې به هم هغوی همداسی کار وکړی. د څولسېزو راهیسې مدنی ټولنې او ډلې لکه دغیررسمی فلایینګ یونیورستی په نامه د پټې چاپخانی، دتیاترونو سندرغاړو به په کلیساګانو کې خپلې نمایشات کول، د ټولنپوهانو، او اقتصاد پوهانو خاصو ډلو درژیم له پالیسیو سره مخالفت کاوه. دغو ډلو، له دې سره مرسته وکړله چې یوه موازی او پټه ټولنه د ښوونې اوروزنې د ورکولو، چاپی موادو د خپرولو ، کلتوری مراسمو د دایرولو، د ټولنې د لوستلو او خپرلو، او د اقتصادی بیارغونې لپاره د وړاندیزونو په کولو سره جوړه کړی. په دې توګه مدنی ټولنه، ددغو نسبتاً ازادو ټاکنو د ازمېښت لپاره چمتووه. که څه هم هلته دتعریف له مخې، غیرحکومتی مؤسسات موجود نه و. خو داسی ټوکه به کېدله چې : یوازینې غیرحکومتی مؤسسه چې په پولېنډ کې موجوده ده هغه دکمونیستی رژیم واکداران دی.

د ټاکنو شعارونه، په بشپړ ډول مثبت وو، ځکه چې مدنی ټولنې غوښتل چې دا ثابته کړی چې درنه او عزتمنه ده. همدارنګه د




دمرېلنډ یو هنشتون، مهربانی کړېده

یوپوستر چې رای اچوونکی دېته هڅوی چې سالېډېرېټی ته، د کمونیست پولېنډ په لومړنیو اونسبی توګه ازادو ټاکنو کې، رایې ورکړی.
دهالیوډ، دوېسټرن های نون، فیلم چې د پولېنډ په برخه کې داسی صدق کوی چې د ۱۹۸۹ کال د جون د ۴مې های نون.

**هالیووډ مشهور فیلمی ستوری ګاری کوپر په ۱۹۵۲ کې د های نون په نامه یو فیلم کی دامنیه قوماندان نقش لوبولی و. دهغه نقش د پولند د ۱۹۸۹ کال د جون د میاشتی په ټاکنو کې وکارول شو، داسی چه فلم کی کوپر د اتحاد او یووالی لپاره کار کاوه. خو هغه ریښتونی اتل چې د پولېنډ کمونیستی حکومت یې رانسکور کړ ، دهغه ښار د پولیسو قوماندان نه و چې ظالمه او ورانکاری خلک ووژنی. هغه دمدنی ټولنې مؤسسی وی چې د لسهاو کلونواستقامت نه یې کار نتیجه ورکوله. دهغوی کار په ۱۹۷۵ م کال کې شروع شوی و، هغه وخت چې روږ اندو له هغو کارګرانو دفاع وکړله چې داعتصاب له امله زندان ته غورځول شوی وو. هغه دکارګرانو ددفاع کومېټه یا KOR جوړه کړله.**

کمونېستانو نه د کرکی خوړلن، دېته ضرورت نه درلود چې نوره هم ورته لمن ووهل شی. په شعارونو کې، ترټولو وتلی شعار هغه بدله یا سندره وه چې ویل ېې :(نو پولېنډ به پولېنډ وی ــ نه د شوروی ېوه سپوږمکۍ) په دې کې هغه ډول لېک هم مشهور و چې د»سالېډارېټی» یا پیوستون لفظ پکی داسی لېکل شوی و چه ګویا یوه ډله چې یو موټی ده، بېرغ ورسره دی او لارېون کوی.

په مدنی ټولنه باندی محدودېت لګول شوی و چې دولتی تلوېزېون دهغوی سره خبری ونکړی. رژېم د سالېډارېټی ېوځو اعلانونه داسی ځاېونو کې خپرول چې مخکی او وروسته به ترېنه داسی تېراېستونکی شېان خپرېدل، چې د پولېنډ خلک مغشوش کړی او دېوه کاندېد لپاره ېې په راې اچولو کې تېرباسی. په داسی توګه چې دخپلې خوښی دکاندېد په ځای بل چاته راېه ورکړی. مونږ په دې پوهېدلو نو په دې توګه مونږ خلکو ته ددی مسلی د ېادولو لپاره څه پاڼی په خلکو کې ووېشلی. په پاڼو کې لېکل شوی وو چې : که تاسی د سالېډارېټی سره ملګری استی، نو ، پرته له دغوکسانونه، د نورو ټولو کاندېدانو په نوم چلېپا ېا خط کش کړئ. تردی وروسته مونږ دخپلو کاندېدانو نومونه لېکلی وو. مونږ په دې باندی ېوڅه ارېان شولو چې رژېم ته دا پېته ولګېدله چې په خپلوکاندېدانو کې ېې دداسی خلکونومونه شامل کړی وو چې وروستی ېا کورنی نوم به زموږ له کاندېدانو سره ورته و او د هماغی سېمی ېا ناحېې لپاره به کاندېدو چې سالېډارېټی ورته خپل خلک نومولی وو.

مونږ توقع کوله چې کمونېستان به په دې لوبه کې ټګی اوبرګی وکړی، نو په دې بنا مونږ د سالېډارېټی د ټاکنو څارونکو ته وویل چې له ځان سره بېجلۍ ګانی ، ېوسی، هسی نه چې رژېم برېښنا بنده کړی او د راېو په صندوقو کې، جوړې شوې راېې واچوی. همدارنګه له ځان سره اضافې قلمونه ددې لپاره ېوسی چې چارواکی نور قلمونه نلری اورای ورکوونکی نورې راېې نشی اچولی.

زمانقش په دې برخه کې ډېر معمولی اوکوچنی، خو ډېر مهم اواغېزمن و. زه په هغه ډله کې وم چې کله به د ټاکنو څارونکی تشناب ته د معذرت لپاره تلل نو موږ به چارواکی څارل چې دڅارونکی په لنډ نشتوالی کې ، د ټاکنو په صندوقو نو کې ساختګی راېې وانه چوی. په دې توګه به مونږ په ېوی ولسوالی کې دراېو اچولو ټولو حوزو ته تللو او د ټاکنو له څاروونکو سره به مو په دې توګه مرسته کوله. په دې توګه مونږد چارواکو د لاسوهنی مخه نېوله. دا ډېره کوچنی مرسته وه چې کمونېستان له دېنه منع شی چې ېېا له مونږ سره چل ول وکړی؛ خو زه په خپل دې نقش باندی وېاړکومه.

کله چې سالېډارېټی، ټاکنی وګټلی نو د کمونېستانو دګوند له منځه تلل پېل شول او دېموکراتېک اصلاحات په چټکی سره پېل شول. د کورنېو چارو په وزارت کې ځېوونکی څانګی موجودی وی. دمثال په توګه د روڼ اندو خلاف مبارزه، د کلېسا خلاف مبارزه ، داتحادېو خلاف مبارزه ، او د سرغړوونکو دهقانانو خلاف مبارزه، دا ټولی څانګی لغو شولی. ورپسی په ۱۹۹۰ مېلادی کې په پسرلی کې چې کوم انتخابات وشول هغه آزاد اومنصفانه وو. دهمدی کال په اخر کې د سالېډارېټی مشر لېخ والسېا، هغه سړی چې له روڼ اندوسره ېې همکاری کوله د کلېسا له خوا ېې ملاتړ وشو، د ېوې تجارتی اتحادېې مشری ېې کوله او له هغو دهقانانو سره ېې هم همکاری کوله چې سرغړونی ېې کولی. داسړی د پولېنډ د خلکو له خوا د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

خو زما لپاره د ۱۹۸۹ کال د جون ټاکنی د عطف د ېوې نقطې په توګه پاتی شوه. کله چې دا اعلان وشو چې سالېډارېټی ټولی څوکۍ وګټلی خو ېوه ترېنه پاتی شوه. ددې اجازه ورکړل شوی وه چې مبارزه ورته وشی. ماته دامعلومېدله چې ولی داکار وشو: دا ټوله ټولنه په ېوه مدنی ټولنه باندی بدله شوی وه.

---

په دي لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندویي نکوي.

# له استبدادي حاکمیت نه د اروپايي اتحاد تر غړيتوب پورې: رومانيا او مالدوا

## ګريګوري پوپ ايليس



© عکس د ای پي

یوه ښځه ، د ۲۰۰٦ کال د ډېسېمبر په مېاشت کې ، د رومانيا په بخارست کې د بيرغونو ګنډلو په يوه فابريکه کې، په اروپايي اتحاد کې د ۲۰۰۷م کال د جنوري په اوله د رومانيا د ورګډېدو د ورځې د رارسيدو په مناسبت، د رومانيې او اروپايي اتحاد بيروغونه ګنډي.

**د پرينسټن په پوهنتون کې د حقوقو، عامه او نړيوالو چارو مرستيال پروفيسر، ګريګوري پوپ ايليس په ختيځه اروپا او لاتينه امريکا کې د اقتصادي او سياسي اصلاحاتو د مختلفو اړخونو په اړه څېړنه کړې ده. همدا مسئلې د هغه د کتاب (له اقتصادي بحرانه تر اصلاحاتو: په لاتينه امريکا او ختيځه اروپا کې د نړيوال وجهي صندوق پروګرامونه) اصلي موضوع تشکيلوي. دا کتاب په ۲۰۰۹م کال کې د پرينسټن پوهنتون خپرندويه ادارې چاپ کړ.**

**دا دواړه سيمې چې پخوا د کمونسټ بلاک برخې وې، د مختلفو سياسي جريانونو نه تيرې شوي دي. رومانيا په برياليتوب په ملک کې ډيموکراتيکه حکومتداري ساتلې ده او دا وخت د اروپايي اتحاد غړيتوب لري. په مالدوا کې ډيموکراتيک بهير له ډيرو ستونزو سره مخ دی. په دغو دوو هيوادونو کې د حالاتو څېړنې ښيي چې مدني ټولنې او ډيموکراتيکو مؤسسو نوو ټاکل شوو حکومتونو ته د جنګ جګړې پرته د واک په ليږدولو کې مرسته کړې ده.**

د هغه راهيسې چې په شوروي اتحاد او په ختيځه اروپا کې د دوی په متحدو ملکونو کې کمونيزم پای ته رسيدلی، دې ملکونو په مختلفو ډولونو ډيموکراسي خپله کړې ده چې په دې لاره کې يې بريا ، د يوه نه تر بله توپير لري. ددغه توپير د لاملونو د څېړلو يوه لاره، او په هغو شرايطو د زياتو پوهيدو لپاره چې ډيموکراسي پکې غوړېږي، په کار ده وڅېړل شي چې په مقايسوي ډول ملکونو د رينښتينې ډيموکراسۍ يو ارزښتناک امتحان څنګه ورکړی دی: چې هغه د مخالفو سياسي ګوندونو او مشرانو تر منځ په پر امن ډول د واک ليږديدل دي. د دوو پخوانيو کمونيستي ملکونو له پرتلېزې مطالعې نه څرګنديږي، چه داخلي اصلاحات چې هدف ئې نورو ډيموکراتو هيوادونو سره د پيوستون غښتلي کول وي او دغه جريان د مدني ټولنې په واسطه وڅارل شي، د يوه ملک دا ظرفيت لوړوي چې واک په خوندی ډول انتقال کړي او ډيموکراتيکه حکومتداري وساتي.

## انتخاباتي يون

بله د پام وړ مقايسه د مالدوا او رومانيا د ټاکنو د بهير ده، چې له ۱۹۸۹م کال نه رانيولې ددغو ملکونو تر وروستيو انتخاباتو پورې دوام لري. دا مقايسه له دې امله هم پر ځای ده چې ددغو دواړو ملکونو تر منځ ګډ کلتور او تاريخ شته او د کمونيزم راوروسته د انتقال په پړاو کې د سياسي اقتصادي پرمختګ په لحاظ هم مساوي دريځ لري.

پر دې برسيره، دواړه ملکونه (لږ تر لږه په سرسري توګه) يو بل ته ورته خط سير لري، له ۱۹۹۰م کال د پيل نه راپديخوا چې اصلاح شويو پخوانيو کمونيستانوپکی نفوذ درلود او وروسته دوی د اکثريت مرکزي ښي اړخه ائتلافونو له خوا ماتې وخوړه، دا کار لومړی په ۱۹۹٦م کال کې په رومانيا او ورپسې په ۱۹۹۸م کال کې په مالدوا کې عملي شو. که څه هم دا کار ددې ملکونو په ډيموکراتيکو پرمختګونو کې يو مهم اساس کېښود خو،خوشحالئ ډېر دوام ونکړ ځکه چې مرکزي ښي اړخه ائتلافونه د ژورو اقتصادي بحرانونو او داخلي سياسي اختلافاتو سره مخامخ شول. او هر يوه يې په ۲۰۰۰ ـ ۲۰۰۱ کلونو کې داسې سخته ماتې وخوړه چې د هغوی د له منځه تللو سبب شوه.

په هر صورت، دا همهغه ټکی دی چې موازي ليکی پکی ختميږي. په رومانيا کې، يوه اصلاح شوي پخواني کمونست ګوند خپلو اقتصادي او سياسي اصلاحاتو ته ادامه ورکړه، د اروپا سره د پيوستون په لور يې ښه پرمختګ وکړ او د اروپايي اتحاد غړيتوب يې حاصل کړ. مالدوا لومړنی اروپايي هيواد شو، چې کمونستان د اصلاح پرته د ډيموکراتيکو انتخاباتو له لارې بيا واک ته ورسيدل. که څه هم د مالدوا کمونستانو د آزاد بازار او امپرياليستي افکارو په خلاف خپل شديد اختلافات ډېر نرم کړل، خو د دوی د اته کلن واک په جريان کې ډيموکراتيکو آزاديو ته سخت زيان ورسيد. خو بل لور ته، په رومانيا کې د نړيوال نفوذ له امله راپيدا شويو توقعاتو او د داخلي مدني ټولنو غوښتنو په ملک کې د انتخاباتو او ښې حکومتدارئ دپاره د شرايطو د برابرولو سره مرسته وکړه.

## د واک ليږديدني پا انتقال

په ۲۰۰۹م کې، د تيرو بدلونونو نتيجه ددغو ملکونو د سختو انتخاباتي سياليو او سختو انتخاباتو د تر سره کيدو د طرز نه معلومه شوه. په دواړو خواوو کې، د مالدوا د ۲۰۰۹ کال د اپريل په پارلماني انتخاباتو کې او د رومانيا د ۲۰۰۹م کال د نومبر او ډسمبر د ولسمشرئ په انتخاباتو کې بايلونکي طرف د تګئ برګئ د کيدو تور ولګاوه، خو نتيجې بل شان وې.

په مالدوا کې، د جعلکارئ تورونه لږ تر لږه يوه اندازه د بهرنيو څارونکو له خوا ثابت شول. دې کار سخته سياسي نارضايتي راوپاروله او په پايتخت چيسيناو کې مظاهرې په تشدد بدلې شوې او په نتيجه کې د پارلمان ودانۍ او د ارګ ماڼۍ تخريب شولې.

د مالدوا د مهمو سياسي ګوندونو او د رسنيو له عکسل العملونو ( چارانګ) نه په دغه ملک کې د سياست او ټولنې تر منځ يو ژور اختلاف څرګنديږي. ولسمشر ولادمير ورونين او ډيرو حکومتي مطبوعاتو په مخالفو ګوندونو او د رومانيا پر حکومت تور ولګاوه چې د هغو «جنايي ډلو» ملاتړ کوي چې دوی يې د تشدد مسئولې ګڼي. خو د مالدوا د حکومت مخالفه خوا، ډيری مدني ټولنې او ځينې شخصي رسنۍ بيا وايي چې دا مظاهرې په ملک کې د کمونيزم ضد او د لويديځ طرفدارو ځوانانو په خاص ډول د محصلينو د نارضايتئ کلکی څرګندونی وې. دوی همدارنګه ټينګار کاوه چې د رژيم طرفدارو کسانو لومړی تشدد پيل کړ ، ددې لپاره چې مظاهرې نامشروع وښيي او د ديکتاتورئ د بيرته راتګ دپاره لاره هواره کړي.

د چارواکو له زور زياتي او سختو فشارونو په تعقيب په سلګونو کسان ونيول شول او دا تورونه هم لګول کيږي چې پوليسو د تشدد په پيښو کې لاس درلود. که څه هم حکومت بالاخره له سره د انتخاباتو کيدو ته غاړه کېښوده او په نتيجه کې د حکومت مخالفې خوا ته بريا په نصيب شوه، خو کمونست ګوند بيا هم ددې کافي توان او ملاتړ لري چې دداسې اقتصادي او سياسي ليبراليت يا آزادی مخنيوی وکړي چې په آينده کې په پوره امن د واک د ليږديدلو ضمانت کولای شي.

په پرتلېز(مقايسوي) ډول، په رومانيا کې د انتخاباتو په سر راولاړ شوی جنجال، د مشکوکو رايو په نسبي ډول د بيا شميرلو له امله، حل شو. بايلونکي ميرسيا جيوانا ماتې ومنله او خپل سيال کانديد ته يې مبارکي ووېله، خو دا ژمنه يې وکړه چې د پارلماني تحقيقاتو په نتيجه کې به د ولسمشرئ د ټاکنو د بې طرفئ سپيناوی کوي. د رومانيې د سياسي مشرانو دا کار چې خپله ګټه د ملک د ډيموکراتيکو ادارو (چې که څه هم نيمګړتياوې به هم لري) په چوکاټ کې ويني، ددې پوښتنې ځواب دی چې ولې په دغه ملک کې د انتخاباتو د نتيجو له اعلانيدو وروسته لږ مظاهرې وشوې او تشدد رامنځته نشو.

يو شمير، سببونه اولاملونه، چې له يوه بل سره تړلي دی، دا روښانه کوي چې ولې د رومانيا په نسبت په مالدوا کې تشدد زيات و. لومړی، د اروپايي اتحاد د غړيتوب دپاره د رومانيا پيشنهاد او په اتحاديه کې د غړيتوب اخيستلو د ملک ټول مهم سياسي شخصيتونه دې ته وهڅول چې ځينې ګډ ډيموکراتيک معيارونه ومني. په ۱۹۹۳م کال کې، اروپايي شورا په کوپنهاګن کې پريکړه وکړه چې د اروپايي اتحاد غړيتوب ته کانديد ملکونه بايد «د ډيموکراسئ د تضمينوونکو ادارو ثبات، د قانون حاکميت، د بشري حقوقو او د اقليتونو، حقوقو ته احترام» ولري. ځکه د رومانيا غوښ اکثريت ددغه غړيتوب پلويان وو، يو لړ مهم اصلاحات رامنځته شول. دغو اصلاحاتو په برياليتوب سره د پخوانيو کمونستانو مخنيوی وکړ چې د خپلې ګټې دپاره قوانين جوړ کړي او دا خبره يې هم روښانه کړه چې ولې دوی په ۱۹۹٦ کې په انتخاباتو کې له ماتې وروسته له امن نه ډک ماحول کې واک وسپاره.

که څه هم مالدوا له ۲۰۰۵م کال راپديخوا، له اروپايي اتحاد سره خپله همکاري زياته کړې ده، خو د بنسټيزو سياسي او اقتصادي اصلاحاتو د رامنځته کولو لپاره ددغه ملک د حکومت تعهد لا تر اوسه نتيجه نه ده ورکړې. په داسې حال کې چې ښايي د نوي

حکومت سره به اصلاحات زور واخلي، دغه ملک لا تر اوسه له غرب سره د نږدې کیدو په مقابل کې د روسیې له مخالفت سره مخ دی. برسیره په دې، ددې ملک د مدني ټولنې ادارو هم د رومانیې په پرتله په ټولنه کې، د ډېرو معېارونو پربنا، ژورې ریښې نه دي ځغلولي؛ یو علت یې دا دی چې مالدوا په تیره یوه لسیزه کې د ډېرو زیاتو مهاجرتونو له آمله ځپل شوې ده.

دوهم دا چې، د نړیوالو او مدني ټولنو د فشارونو له امله د رومانیې د سوشل ډیموکرات پخواني کمونست ګوند په خپلو چارو کې قدم په قدم مهم اصلاحات راوستي دي، خو د مالدوا کمونستان بیا هم په ظاهره او هم په سیاسي لحاظ د خپل د شوروي د وخت له سابقې سره زیات نښتي دي. په نتیجه کې د اصلاحاتو نشتوالي د کمونستانو او د کمونستانو د مخالفینو تر منځ ډله ایز اختلافات هم زیات کړي دي او د رومانیا په نسبت یې د سیاسي ائتلافونو د تشکیل لپاره د مصلحت زمینه ډېره محدوده کړې ده.

وروستی دا چې، په رومانیا کې د مالدوا په نسبت آزاد مطبوعات ډیر مخکې رامنځته شول، ځکه چې دغه ملک د شخصي مطبوعاتو ډیرې سرچینې لرلې او حکومت هم په ډله ئېزو رسنېو باندې لږ نفوذ درلود. د نتیجې په توګه، د سیاسي معلوماتو خپریدل په رومانیا کې تر ډېره حده متوازن وو. دا په خپل وار د بحران د ایجادولو په خاطر د معلوماتو د استعمال زمینه محدودي.

## نوي وسایل

که آیندې ته پام وشي، د ارتباطاتو عصري ټکنالوژي کیدای شي په دواړو ملکونو کې د مدني ټولنو د غوړیدو اساسي عنصر وي. ټویټر، فېس بوک او ایس.ایم.ایس (د لنډو پیغامونو خدمات) د مالدوا د ۲۰۰۹م کال په پارلماني انتخاباتو کې له مظاهره چیانو سره مرسته وکړه چې خپلې چارې په ډېر لنډ وخت کې تنظیم او په حرکت راولي. حتی د لویدیځ مطبوعاتو په مالدوا کې پیښې د «ټویټر انقلاب» وباله. په همدې ډول په رومانیا کې، عامو رسنیو له ملک نه بهراوسیدونکو رومانیائی رایه ورکوونکو پر ګډون اثر درلود، دوی اکثره د ولسمشر تراجان باسیسکو ملاتړ کاو او د رایو د نتیجې برخلېک یې وټاکه.

که څه هم ددغو نویو وسایلو، آینده لا روښانه نه ده، خو د مدني ټولنو دپاره به یې ارزښت نور هم زیات شي. د ډیموکراتیکو انتخاباتو عواقب او د بیان هغه آزادي چې دوی ورته اړ دي، په ۲۱مه پیړۍ کې به د ډیموکراسی د کیسې یوه مهمه برخه بیانوي.

---

په دې لیکنه کې بیان شوي نظریات لزوماً د امریکا د دولت د نظریاتو او سیاستونو ښکارندویي نکوي.



© عکس د ای پي / جان مکونیکو

”جعلکاري نه منو“: د چیسینو د انتخاباتو د کمیسیون د مرکزي دفتر مخې ته، د مالدوا یو مظاهره کوونکي د جولای ۲۰۰۹ کال، د پارلماني انتخاباتونه وړاندې.

# د «سربیا منی» وځنډید: بی تمدنه ډیموکراسي جوړولو په اړه یو سبق

زوران سرجاکویچ




© عکس د ای پی، دارکو ویونیوک-۳۷۵۹ ډبلیو

د ۲۰۰۱ کال مارچ: پوسترې د پخوانۍ یوګوسلاویا جمهور رئیس سلوبدان ملاسویچ د نیولو غوښتنه کوي. په دغو پوسترونو کې ملاسویچ د بندي خانې د تمبو شاته او ددې پوښتنې سره ښودل شوی چې «ولی؟»

**زوران سرجاکویچ په بلګراد او سربیا کی د خپرونو او اړیکو فاکولتی کی د ژونالیزم تدریس کوي. هغه د پخوانۍ یوګوسلاویا او ډیموکراسۍ ته بدلون موندلې یوګوسلاویا په اړه نیوزویک او لاس انجلس ټایمز ته راپورونه ورکړی دی.**

**سیاسي حقیقتونه په هره ټولنه کې یو له بل سره توپیر لري. دلته عیني شاهد د «سربیا مني» دهغه منی موسم چې مستبد سلوبدان ملاسویچ یی راوغوځا و، د ولسواکۍ لاس ته راوړل نه یوازی د غیر دولتی سازمانونو (انجوګانو) او نورو مدني ټولنو پوری تړلو ادارو کار بولي بلکه په سرې سینې د تر سره شوی سیاست برخه هم نه هیروي.**

د سربیایی رهبرانو لپاره منی د خطرنه ډک وخت دی. سربیان چې د بالکان د سخت ژمي سره له یوی خوا او د اقتصادي ستونزو سره له بلی خوا مخامخ و، د بدلون په هڅه کې و. د ۱۹۸۷ کال د سپټمبر په وروستیو ورځو کې، سلوبدان ملاسویچ خپل د اوږدې مودې مشاور،ایوان سټمبولیچ، له کاره ګوښه کړ او په دي توګه یی د بالکان د تاریخ پاڼه واړوله. ملاسویچ چې د مني بد حالاتو نه اندیښمن و، خو د پسرلي هیله، د هغه په یو لسیزه اوږد مهاله واکمني کی د څرکیدو په حال کی وه، هغه د ټول ټاکنو تر سره کولو نیټه د سخت ژمي په منځ کې پدی تمه اعلان کړه چې کیدی شي دغه ډیر سوړ او سخت ژمي د اپوزیسیون د غصی مخه یو څه ونیسی. په پای کې هغه بایلونکې و خو د هغو غیر دولتي سازمانونه له لارې نه چې د لویدیځ له خوا تمویل شوي و یا د خپلواکه اتحادیو د کار له کبله ځکه چې هغوی په دی اړه ډیر کم رول لوبولی و. د ملاسویچ نه اصلي غچ اخستونکی د تجربه لرونکو سیاستمدارانو او د زده

كوونكو د وګړيز غورځنګ هغه ائتلاف و چه تمه ئې نه کيده.

کله چې ملاسويچ د ټول ټاکنو نيټه د ۲۰۰۴ کال د سپټمبر ۲۴ مه يعنى نه په ژمي بلکه په مني کې اعلان کړه، دا دحيرانتيا لويه خبره وه. نتيجه د ملاسويچ په ګټه نه وه. هغه هڅه وکړه چې د ټول ټاکنو نتيجه د سربيا د ټول ټاکنو په کميسيون او ستره محکمه کې په بدلون راوستلو سره بدله کړي، ددې پر ځای چې وجيسلاو کوستونيکا د لومړي پړاو جمهور رئيس اعلان کړي، هغه د دويم پړاو ټول ټاکنو ترسره کول اعلان کړل. خو د ملاسويچ هغه هڅه چې د ټول ټاکنو نتيجه بدله کړي، په ټوله سربيا ان په هغه ځايو کې چې د هغه د ملاتړ ډګرونه وو، ډير اعتراضونه او اعتصابونه راوپارول. په سترو ښارونو کې اصلي سړکونه بند کړی شول، هيچا کثافات د ځو ورځو لپاره ټول نکړل او د اپوزيسيون پلويانو هره ورځ اعتراضي لاريون کاوه. دغو اعتراضونو هيواد تر ډيره حده فلج کړ او هغه دې حد ته ورسيده چې اکثراً يې د «۵ اکتوبر پرځول» يا په ساده ډول د « انقلاب» په نوم ېي يادونه کيږي. دې ټولو پيښنو دوه سبقه وروښودل. لومړی که څه هم ټول ټاکنې آزادې اوعادلانه هم نه وې، د مستبدو لپاره خطرناکې کيدی شي. دويم دا چې دمدني ټولنې «تجربه لرونکي او بنسټيز» سازمانونه تل د مستبده واکمنی د ليرې کولو لپاره د ټولو نه ښه عامل ندي.

خو د هغو پام وړ شخصيتونو او ټولنو په منځ کې چې د بدلون لپاره ليواله وو، د ټولو نه مهم او اصلی کس کوستونيکا يا هغه سړی و چې د سپټمبر په ټول ټاکنو کې يې ملاسويچ ته ماته ورکړه. هغه چه د ملاسويچ په شان يو پياوړي ملتپال و، د سربيانو نه ئې چې د ملاسويچ د ناکاميو نه ستړی شوي و، د رای ورکولو غوښتنه وکړه. کوستونيکا د لوېديځ ارزښتونه او خيالات نه و خپل کړي. په آرامه خبری کوونکې او ناځلانده کوستونيکا ته دملاسويچ فاسده تبليغاتي ماشين د ځليدلو ډير کم چانس ورکړی و.

متصديانو ډيره هڅه وکړه چې زوران ديندېچ د رژيم تر ټولو سرسخته مخالف او د کوستونيکا سيال سره يو شي خو هغه دغه کار ته ډير ليواله نه و. دولتي خپرونو په ډير برياليتوب سره ديندېچ دومره خوار او کوچني وښوده چې په ټول ټاکنو کې ورته د بري هيڅ چانس پاتی نشو. ديندېچ نه ظالم و او نه بی مسؤليته. هغه زړه ور، عملګرا و ، تر آخري حده واقعيت ګرا او تل د جوړجاړي کولو لپاره تيار کس و. دغه صفتونو د هغه نه د مني په هغه ورځو کې چې د سربيا راتلونکی نامعلومه وه، داسی يو لازمي کس جوړ کړی و چې د شتون نه يی چا سترګې نشوې پټولای.

د انقلاب په برياليتوب کې د اوټپور Otpor په نوم د زده کوونکو يو بنسټيز غورځنګ چې ډير ژر د ملاسويچ په مخالفانو بدل شول، ډير مهم رول ولوبوو. اوټپور د رابرټ هيلوی په نوم امريکايي پوځ يو متقاعد ډګروال په مشورو سره کار کاوه او په واشنګټن کې ميشته د ډيموکراسی لپاره ملي وديعه په نوم د يو سازمان بی شانه مالي مرستي تر لاسه کولې. اوټپور لکه د نورو انجوګانو په شان يوه انجی او نه وه، بلکه د زده کوونکو هغه ډير ژر پر مختلونکي غورځنګ و چې ټولنيزه او تر ډيره حده غير متمرکزه رهبري ئې درلودله نو له دې کبله د لويديځ په مرسته جوړ شوي نورو انجوګانو په پرتله اغيزمن و. په همدغه پيمانه د بلګراد په سويل کې د لازريويچ په نوم د يو کوچني ښار سيمه يزه معدنچيان چې زيات د حيرانتيا وړ و خو لږې مالي مرستي ورسره کيدلې، هغوی هم مهم نقش لوبولی و. هغوی چې يو مهال رژيم ته وفاداره وو، لومړنی اعتصاب يی ددې علامت و چې د ملاسويچ دولت به، د لاس وهلوسره سره ، ټولټاکنې ونشي ګټلای.

کله چې د اکتوبر په پنځمه شعار ورکوونکو مظاهره چيانو سهار وختي په بلګراډ کې غونډه جوړه کړه، زه دې نتيجې ته ورسيدم چې ملاسويچ نور«ختم» دی. ما وليدل چې د فوټبال ليوال هم د دغې غونډی سره د يوګوسلاوي پارلمان مخامخ په ستر ميدان کې سره يو ځای شول. ملاسويچ تقريبا ديوی لسيزی لپاره د دغو «فټبال شوقيانو ليونيانو» انرژي او شوق نه په پوره ځيرکی ګټه اخيستی وه. خو آخرهغوی هم دهغه په ضد شول. د ټولو نه زيات شوقي او ليوال هغه کسان و چې د لنډ مهاله اخ او ډب په دوران کې چې په کې پارلمان او دولتي تلويزيون د سوځيدلو په حال کې وليدل شول، د پوليس د ليکو نه تيرشول او د پوليسو اېښودل شوي خنډونه يی مات کړل.

د ملاسويچ، واکمني ــ چې په لوی لاس يې غېرمدنی حکومت چلاوه ــ په غير متمدنه توګه ختميدلو، حد اقل په سربيا کې د مدني ټولنو ناکامی او نواقص څرګند کړل. په دې کې کوشش کيده چې انجوګانو ته د مرستو کولو لارې ډيموکراسی راولي. برعکس، ډيرو وګړو هغو سازمانونو ته د شک په سترګه کتل چې يا يی ډير کم د اصلاحاتو نه ملاتړ کړی يا اصلا د اصلاحاتو ضد يی کار کړی دی. تر ننه پورې، زيات شمير سربيايی انجوګاني د يو رئيس له خوا اداره کيږي چې هغه هم د لويديځ څخه د مرستو اخستلو په ساتلو کې بوخت دې ددې پر ځای چې د کړکيچنې او ترخو سياسي واقعيتونو ته په هغه هيواد کې پاملرنه وکړي چې کله کله پرمختګ پکی په نامطبوع يا ناپسندو سياسي معاملو پوری تړلی وي. بی له «غيرمدني» معاملو او بی خونده ټلوالو، به ښايې موږ بيا هم د «سربيا مني» ته تراوسه پورې په تمه وای.

په دې ليکنه کې بيان شوي نظريات لزوماً د امريکا د دولت د نظرياتو او سياستونو ښکارندويي نکوي.

# نورې منابع

## کتابونه، لیکنې ، ویبپاڼې، او فیلمونه ،د واک د سوله ایز انتقال په هکله فیلمونه


### کتابونه او لیکنې

**Burke, John P**. *Presidential Transitions: From Politics to Practice*. Boulder, CO: Lynne Rienner Publishers, 2000.

**Campbell, Kurt M**. *Difficult Transitions: Foreign Policy Troubles at the Outset of Presidential Power*. Washington, DC: Brookings Institution Press, 2008.

**Clinton, W. David, and Daniel G. Lang, eds**. *What Makes a Successful Transition?* Charlottesville, VA: Miller Center of Public Affairs, University of Virginia, 1993.

**Corcoran, Paul E**. *"Presidential Concession Speeches: The Rhetoric of Defeat." Political Communication,* vol. 11, no. 2 (April-June 1994): pp. 109-131.

**Goodwin, Doris Kearns**. *"The Man Who Lost What He Loved."* McCall's, vol. 120, no. 5 (February 1993): p. 102.

**Halchin, L. Elaine.** *Presidential Transitions: Issues Involving Outgoing and Incoming Administrations.* Washington, DC: Congressional Research Service, 2008. *http://www.fas.org/sgp/crs/misc/RL34722.pdf*

**Horwitz, Pau**l. "Honor's Constitutional Moment: The Oath and Presidential Transitions." *Northwestern University Law Review,* vol. 103, no. 2 (2009): pp. 1067-1081. *http://www.law.northwestern.edu/lawreview/colloquy/2008/47/LRColl2008n47Horwitz.pdf*

**Huntington, Samuel P**. "How Countries Democratize." *Political Science Quarterly,* vol. 124, no.1 (Spring 2009): pp. 31-71.

**Jones, Charles O., ed**. *Preparing to Be President: The Memos of Richard E. Neustadt*. Washington, DC: AEI Press, 2000.

**Kubba, Laith**. "Institutions Make the Difference." *Journal of Democracy*, vol. 19, no. 3 (June 2008): pp. 37-43.

**Kumar, Martha Joynt and Terry Sullivan, eds.** *The White House World: Transitions, Organization and Office Operations*. College Station, TX: A and M University Press, 2003.

**Larson, Edward J**. *A Magnificent Catastrophe: The Tumultuous Election of 1800, America's First Presidential Campaign.* New York, NY: Simon and Schuster, 2007.

**Linz, Juan J. and Alfred Stepan**. *Problems of Democratic Transition and Consolidation: Southern Europe, South America, and Post-Communist Europe*. Baltimore, MD: Johns Hopkins University Press, 1996.

**Pfiffner, James P**. *The Strategic Presidency: Hitting the Ground Running*. Lawrence, KS: University of Kansas Press, 1996.

**Sirianni, Carmen**. *Investing in Democracy: Engaging Citizens in Collaborative Governance.* Washington, DC: Brookings Institution Press, 2009.

**U.S. Congress**. House Committee on Oversight and Government Reform. Subcommittee on Government Management, Organization, and Procurement. *Passing the Baton: Preparing for the Presidential Transition: Hearing Before the Subcommittee on Government Management, Organization, and Procurement of the Committee on Oversight and Government Reform, 110th Congress2nd session, September 24, 2008*. Washington, DC: U.S. Government Printing Office, 2009.

### ویب پاڼې

**Brookings Institution: Governance**
*http://www.brookings.edu/governance.aspx*

**In-Depth Coverage: Obama's Transition to Power**
*http://www.pbs.org/newshour/indepth_coverage/white_house/transition2008/*

**The Presidential Transition**
*http://www.govexec.com/specialreports/transition.htm*

**Transition: 2008 Presidential Campaign**
*http://www.gwu.edu/~action/2008/chrntran08.html*

---

دامرېکا د بهرنیو چارو وزارت دمحتوپاتو او هغو ته د لاسرسی او هغو ماخذونو د پېدا کېدو مسوولېت نلری چې پورته ذکر شوېدی. د انټرنېټ ټولی اړېکی د ۲۰۱۰ کال تر جنوری پورې فعالی وی.


now on facebook
eJOURNAL USA
ENGAGING THE WORLD
U.S. PRESIDENTIAL TRANSITIONS
IMMIGRANTS JOINING THE MAINSTREAM
CHOOSING A CAREER
THE GREENING OF U.S. CORPORATIONS
WORLD YOUTH BUILDING A FUTURE
DISABILITY & ABILITY
A MONTHLY JOURNAL
IN MULTIPLE LANGUAGES
http://america.gov/publications/ejournalusa.html
U.S. Department of State, Bureau of International Information Programs